

# د اکتوبر انقلاب

انقلابونه د تاریخ لوکوموتیفونه (محرکین) دي. ”مارکس

د اکتوبر انقلاب

”
یوه پېړۍ وړاندې، د اکتوبر انقلاب له بریالیتوب سره، مارکسیزم – لنینزم چین ته راغلی. له هماغې ورځې څخه چې د چین کمونست گوند جوړ سو؛ د مارکسیزم – لنینزم علمي نظریې یې د هیواد د ستونزو د حل لپاره وړاندې کړې، چې له امله یې نن د چین خلگ د خپلواکۍ، آزادۍ، هوسایني او نېکمرغۍ پر خوا روان دي. “

شي جین پینگ، د چین د کمونست گوند عمومي منشي



د کتاب نوم: د اکټوبر انقلاب

لیکنه، ټولونه او اوډنه: مدرس

د بیا سـمون او برېښـنايي خپرولـو نېټـه: اکټـوبر، ۲۰۲۰

"یوه پېړۍ وړاندې، د اکتوبر انقلاب له بریالیتوب سره، مارکسیزم -لنینزم چین ته راغلی. له هماغې ورځې څخه چې د چین کمونست گوند جوړ سو؛ د مارکسیزم -لنینزم علمي نظریې یې د هیواد د ستونزو د حل لپاره وړاندې کړې، چې له امله یې نن د چین خلگ د خپلواکۍ، آزادۍ، هوساینې او نېکمرغۍ پر خوا روان دي."

شي جین پینگ، د چین د کمونست گوند عمومي منشي

"د شوروي اتحاد انقلاب بشري ټولنه د پرمختگ پر لوري یووړل او داسې یو روښانه څراغ یې ولگوئ، چې مړ کېدونکی نه دی. د داسې یو نوي تمدن بنسټ یې اېښی، چې نړۍ به د هغه پر لوري ولاړه سي."

جواهر لعل نهرو، د هندوستان پخوانی ولسمشر

# لړ

د فرانسې بورژوا ډموکراتیک انقلاب (۱۷۸۹) ........................................ ٥
د تاریخ لوکوموټیف د حرکت لپاره تیاربري (۱۸۵۰ - ۱۹۱۷) ....................... ٧
د پاریس کمون (۱۸۷۱) ............................................................ ٩
د اکتوبر انقلاب د پیښېدلو څرنګوالی (۱۹۱۷ فبروري -اکتوبر) ................. ١٥
د انقلاب وروسته، د چټکو ګامونو اخیستلو پیل (۱۹۱۷ - ۱۹۱۸) ................. ٢٤
کورنۍ جګړه (۱۹۱۸ - ۱۹۲۲) ........................................................ ٢٨
نپ (نوی اقتصادي سیاست ۱۹۲۱ - ۱۹۲۹) ........................................... ٣٢
د شوروي جمهوریتونو تشکیل او اتحاد (۱۹۲۲ - ۱۹۲۴) ........................ ٣٤
د بیارغوني پای او د پرمختللي او صنعتي سوسیالیزم د اقتصادي بنسټونو جوړول (۱۹۲۹ - ۱۹۳۹)........................................................................ ٤٠
دوهمه نړیواله جګړه (۱۹۳۹ - ۱۹۴۵) ............................................... ٤٥
د جګړې وروسته بیارغونه او د ساړه جنګ پیلیدل (۱۹۴۵ - ۱۹۵۳).............. ٥٠
شوروي اتحاد د سټالین تر مړیني وروسته (۱۹۵۳ - ۱۹۹۲).......................... ٥٧
د اکتوبر انقلاب ځیني لویي لاسته راوړني:........................................ ٦٠
زموږ په عصر کي د سوسیالیزم د جوړولو لپاره د اکتوبر انقلاب درسونه ......... ٦٥

## د پیل خبري

*انقلابونـه د تـاریخ لوکوموتیفونـه (محـرکین) دي.″مـارکس″*

«انقـلاب» چـي د کمـي او کیفـي بـدلون د را منځتـه کېـدلو مفهـوم افـاده کـوي، پـه بشـري تـاریخ کـي اوږده مخینـه لـري. انقلابونـو پـه انسـاني ټـولني کـي، د تولیـدي مناسـباتو پـه بـدلولو سـره لـوی کمـي او کیفي اوښتونونه مـنځ تـه راوړي او انسـانان یـې د یوه شـاته پـړاو څخـه بـل پرمختللـي پـړاو تـه اړولـي. بشـري تـاریخ په بیلابېلو شـکلونو کـي، د څو لویـو انقلابونـو تجربـه لـري، چـي د ټـولنیزو انقلابونـو لـه ډلـي څخـه یـې، د مریتابـه او ځمکـوالۍ انقلابونـه، صـنعتي - بـورژوا ډموکراټیـک انقلابونـه او سوسیالیسـټي انقلابونـو یـادولای سـو. دغـو انقلابونـو هـر یـوه یـې، د بشـري ژوندانـه پـه کمـي او کیفـي پرمختـګ او بـدلون کـي د محرکینـو (حرکـت ورکـونکي) رول لوبـولی دی. پـه معاصـر عصـر کـي د فرانسـې بـورژوا ډموکراټیـک انقـلاب او پـه هغـه پسـې د روسـیې د اکتـوبر سوسیالیسـټي انقـلاب د بشـریت پـه ژوندانـه کـي د ډېـرو لویـو –لویـو بـدلونونو د را مـنځ تـه کېـدلو لامـل سـوي دي، چي زموږ ننۍ ټولنیز ژوند هم په ټینګه ورڅخه اغېزمن دی.

سـږ، د ۲۰۱۹ کـال پـه اکتـوبر کـي د روسـیې د سوسیالیسـټي انقـلاب ۱۰۲ کالـه وسـول، پـه دې مناسـبت مـو وپټیلـه، چـي د یـاد

انقلاب د پېښېدلو پر څرنګوالي، تاریخي تګلوري، بریالیتوبونو او نورو لوړو – ژورو یې روڼا واچوو. البته، دا رساله د تاریخي او علمي معلوماتو او ارقامو له اړخه ډېره نیمګړې او لنډه ده، هیله ده، چې په راتلونکي کې به د اکتوبر انقلاب پر تاریخي، سیاسي، اقتصادي او نورو اړخونو باندې لا زیاتې څېړنې وسي، تر څو د هغو له تجربو، بریالیتوبونو او نیمګړتیاوو څخه لازم درسونه واخیستلای سو او هغو ټولو مواردو ته په کتو سره، په خپل عصر او خپل هیواد په شرایطو کې د سوسیالیستي انقلاب لپاره نقشه وکښلای سو.

## د فرانسې بورژوا ډموکراټیک انقلاب (۱۷۸۹)

د فرانسې د انقلاب او د هغه د دندو او لاسته راوړنو پرته به مو د اکتوبر د انقلاب په ماهیت او تاریخي تګلوري باندې خبرتیا نیمګړې وي. په اتلسمه پېړۍ کې د فرانسې د لوی انقلاب له پیښېدو سره په اروپا کې، د فیوډالیزم زوال پیل سو او د فیوډالي طبقې ځای، نوي پانګوالي طبقې ونیو. د فرانسې انقلاب، د پانګوالی په مناسباتو باندې، د فیوډالیزم د سیاسي او ټولنیزو مناسباتو د اوښتون پیلامه وه. د پانګوالی اقتصادي مناسباتو په خپله مخبناء کې د لیبرالیزم ارزښتونه، فردي آزادي، د عقیدې آزادي، بشري حقوق، په اقتصاد کې د دولت نه مداخله او د ډموکراسۍ او ولسواکۍ ارزښتونه مطرح کړل، خو مخکې له دې چې د فرانسې د انقلاب ارزښتونه او

اغیزې تر نوري نړۍ پوري ورسېږي او هلته لومړی د پانګوالی نوي مناسبات را منځته او بیا د پانګوالی مخبناء (سیاسي او ټولنیز لیبرالیزم) څرګند سي؛ په نویو پانګوالي هیوادونو کي، د پانګوالی مناسباتو ودي او پراختیا، د استعمارونو او لښکرکشیو را منځ ته کېدو ته سیاسي او اقتصادي تقاضا را منځته کړل او د پانګوالو د غوښتنو د پوره کولو لپاره هماغه هیوادونه چي پکښي بورژوا - ډموکراټیک انقلابونه بریالي سوي وه؛ خپله د فرانسي د انقلاب د ارزښتونو [آزادی، برابری او ورورولی] دوښمنان سول. پرمختللو پانګوالي هیوادونو د لښکرکشیو او استعماري سیاستونو په طرحي سره، د نړۍ د نورو هیوادونو لوټ ته مخه کړل او د وروسته پاته توب د تشدید او پوځي او سیاسي استبداد سره یې، د ټولنیز تکامل د ټولو مزایاوو څخه لیري وساتل. په خپله صنعتي –پانګوالي هیوادونو کي بیا پانګوالي طبقې د خپلو هیوادونو د کارګري طبقې څخه په ډېره بې رحمانه توګه ګټه پورته کول. هغه مهال، که د انګلستان د امپراطوری په یوې برخي کي لمر څرک واهه او په بلي برخي کي به پریوتی؛ بیا هم خپله د انګلستان میلیونونو کارګري طبقې د ورځي شپاړلس ساعته یا تر دې هم زیات کار کوئ او کور، ډوډی، روغتیا، پوښاک، زده کړي او نوري د ژوندانه هیڅ ډول مادي او فرهنګي اړتیاوي یې تامین نه وې. (Harlodaski, ۱۹۷۹)

دا چې د فرانسې انقلاب د پانګوالي طبقې په رهبرۍ ترسره سو او فیوډالیزم یې د خپلو طبقاتي ګټو او پانګوالۍ د مناسباتو د ودي لپاره ړنګ کړی وو؛ نو د پانګوالۍ تولیدي نظام خپله بشریت ته په یو ناسور واوښت او د فرانسې د انقلاب او د لیبرالیزم ارزښتونو قلابي او سوداګریز ماهیت خپل کړ او د پانګوالي طبقې د واکمنۍ تر پایه به لا هماغسي پاته سي.

دا ځای وو چې د تاریخ لوکوموتیف (محرک) باید یوه پلا بیا په حرکت راغلی وای.

## د تاریخ لوکوموټیف د حرکت لپاره تیارېږي

## (۱۸۵۰ - ۱۹۱۷)

وروسته له هغه چې د اروپا د پانګوالي انقلابونو سره له یوې خوا استعمارونو وده وکړل، له بلي خوا څخه خپله په اروپا کي کارګره طبقه په ډېر ناوړه ډول سره استثمار کېدل او د صنعتي هیوادونو ترمنځ د مستعمراتو پر سر جګړې ونښتې، نو د دې اړتیا پېښه سول، چې د پانګوالۍ بربریت ته یو مناسب او علمي الټرناټیف (بدیل) پیدا سي. د دې کار لپاره باید اول خپله پانګوالي او بیا د پانګوالۍ څخه مخکي اقتصادي فورمونه (لومړی کمون، د مریتابه دوره او فیوډالیزم) په دقیق ډول څېړل سوي وای، د یوه اقتصادي فورم څخه بل ته د

اوښتون او تکامل عمومي او علمي قانونمندۍ پیدا سوي وای او د هغه په دقیق علمي تشخیص کي بیا خپله پانگوالي سپړل سوې او د هغه څخه د پانگوالۍ وروستی او منطقي انجام موندل سوی وای. دا کار ته یو ځوان هگلي په پیل کي، په غیر شعوري ډول مخه کړل. تر ډېرو علمي کارونو، څېړنو او موندنو وروسته یې د ډیالکتیک ماټریالیزم د میتودونو په رڼا کي وموندل، چي پانگوالي په خپل جوړښت کي هغه تضادونه لري، چي پخوانیو اقتصادي فورمونو هم په ځان کي درلودل او د هغو تضادونو ټکر د هغو د اوښتون لامل سو. دا تضاد د تولیدي ځواکونو او تولیدي مناسباتو تضاد (چي په پانگوالۍ کي د کار او پانگي تضاد په شکل عمل کوي) دی. پر دې اساس، د تېرو اقتصادي فورمونو په ډول، پانگوالي هم په حتمي اوښتون باندي محکومه ده، سم هغسي لکه نور اقتصادي فورمونه، چي په پانگوالۍ اوښتي وه او دا کار لکه پخوا چي غلامانو، بزگرانو او بیا پانگوالو طبقاتو کړی وو؛ دا پلا د دې فورم د اړولو رسالت د کارگري طبقې په لاس دی، ځکه د پانگوالۍ اساسي تضاد د کار او سرمایې [د تولیدي ځواکونو او تولیدي مناسباتو] ترمنځ تضاد تشکیلوي او د پانگوالۍ په فورم کي تولیدي ځواکونه [کارگران] دي. هغه څا چي دا قانونمندۍ یې کشف کړې؛ جرمنی کارل مارکس وو، چي بل ملگري یې فریدریش انگلز هم ورسره هر اړخیزه تیوریکه، علمي او تخنیکي همکاري درلودل.

د مــارکس د نظریــاتو جمــع بنــدي د صــنعتي پــانگوالي هیوادونـو پـه علمـي محـافلو کـي تـر بحـث لانـدي ونیـول سـول او وروسـته د سیاسـي کـار او سیاسـي تشـکل پـه چوکـاټ کـي تـر کــارگري ټولگــو او اروپــا تــر روښــانفکرانه محفلونــو پــوري ورســېدل. د اروپــا ترڅنــگ د روســیې علمــي، روښــانفکره او کـارگري محافـل هـم د مارکسیزم سره آشنا سـول او هلتـه یـې هـم مهـم شـعوري پلویـان پیـدا کـړل. پـه دغـه مـوده کـي د پـاریس کمـون هـم را منځتـه سـو، چـي کـارگري طبقـې تـه یـې د یـوه سوسیالیسـټي انقـلاب د را منځتـه کېـدلو لپـاره ارزښـتناکي تجربـې او درسونه پرېښودل.

# د پاریس کمون (۱۸۷۱)

د فرانسـې لـه لـوی انقـلاب څخـه اتیـا کالـه وروسـته پـانگوالي اقتصـادي مناسـباتو زیاتـه وده کـړې وه او اروپـایي اسـتعمارونو نـه یـوازي پـه آسیا، افریقـا او لاتیني امریکـا کـي د نـورو هیوادونـو سـرچینې او شـتمنۍ لـوټلې، بلکـې پـه خپلـو منځونـو کـي هـم سـره چنگـاو وه. ترڅنـگ یـې پـه اروپـایي پـانگوالي هیوادونـو کـي ورځ تـر بلـي پراخېـدونکي طبقـاتي واټنونـو او د کـارگري او زیـار ایسـتونکي طبقـې ورځ تـر بلـي ډېرېـدونکي ځبېښـاک د پـانگوالۍ ټولنیزو جوړښتونو ته د یوه ټکان ورکولو شرایط برابر کړي وه.

د هغـه مهـال سوسیالیسـټو او نـورو ټولنپالـه بهیرونـو هـم پـه دوامـداره ډول سـره دا تبلیغـول، چـي د یـوې بلـي نـړۍ جـوړول

شـوني دي، داسـي نـړۍ چـي د پـانګوالو او هغـو پـوري تړلـو دولتونـو پـر ځـای سیاسـي واک خلـګ او زیـار ایسـتونکي طبقـات سمبال کـړي. د دغـو ټولـو تـاریخي عواملـو د یـو ځـای کېـدو سـره، پـه ۱۸۷۱ کـال کـي، د فرانسـې پـه پـاریس ښـار کـي یـو لـړ داسـي پېښـي وسـوې، چـي نړیـوال انقلابـي غورځنـګ تـه یـې ارزښـتناکي تـاریخي، علمـي، انقلابـي او سیاسـي تجربـې ور پـه برخـه کـړې او اغیـزې یـې د نـړۍ پـه وروسـته پېښـو او انقلابونـو (پـه ځـانګړې ډول د اکتوبر په سوسیالیستي انقلاب) باندي هم ښکاره وې.

د ۱۸۷۰ کـال پـه جنـوري میاشـت کـي، د فرانسـې د پاچـا دریـم نـاپلیون او پـروس د امپراطـورۍ تـرمنځ پـه جګـړه کـي دریـم نـاپلیون ماتـه وخـوړل او پروسـیان د نـاپلیون د پوځیـانو پـه تعقیـب د پـاریس تـر ښـاره ور پسـي ورغلـل. پروسـیانو د پـاریس ښـار محاصـره کـړ او د محاصـرې سـره د عـامو خلګـو د ورځنـي ژوندانـه چـاري ډېـري ټکنـۍ سـوې. لـوږې، تنـدي او نـاروغۍ وربانـدي راغلـې. د پـاریس حکومـت پروسـیانو تـه د مـذاکراتو وړانـدیز وکـړ. د پروسـیانو شـرایط ډېـر سـخت او ناعادلانـه وه او خلـګ اړ سـول، چـي د ولسـي ملیشـو پـه چوکـاټ کـي خپـل نظـامي تشـکیلات جـوړ کـړي او د پروسـیانو سـره وجنګېـږي. پـه دغـه نـاوړه حالـت کـي لا هـم د پـاریس اشـرافو، اربابـانو او دولتـي چـارواکو د عـالي کچـي ژونـد کـاوه او د پـاریس ښـار محاصـرې د هغـو پـر ژوندانـه او معیشـت بانـدي کومـه اغېـزه نـه وه کـړې، ځکـه

ټوله بوج یې عامو خلګو او کارګرو او زیار ایستونکو طبقاتو پر اوږو وو.

د خلګو تشکیلاتو «ملي ګارډ» خپله مرکزي کمیټه تشکیل کړل، پریکړي یې په ګډه کولې او ورځ تر بلې دومره پراخ سو، چي د پاریس د پانګوالي حکومت تر موازاتو وغځېد. د پاریس حکومت هڅه وکړل د ملي ګارډ سره د کارګرانو او نورو زیار ایستونکو طبقاتو د زیاتي یو ځای کېدني مخه ونیسي ، بې وسلې یې کړي او تشکیلات یې له منځه یوسي، خو په زیاته اندازه خلګ، سرتېري او کارګران د کمون سره یو ځای سول او د یوې نښتي په ترڅ کي یې د پاریس حکومت چارواکي او هغوی پوري تړلي ټول عناصر له ښاره ایستلو ته اړ کړل. د ملي ګارډ مرکزي کمیټې د پاریس ښار ټول واک په لاس کي واخیستی او اعلان یې وکړ، چي د پاریس د کمون ټاکني به د مارچ میاشتي په ۲۶ نېټه باندي کېږي. ټاکني وسوې او د پاریس کمون د کارګرو او زیار ایستونکو طبقاتو د ۹۲ نمایندګانو څخه تشکیل سو. د مارچ په ۲۸ باندي کمون خپل ولسي ځواک او حاکمیت اعلان کړ.



انځور: د پاریس کمون کمونرانو یوه مجسمه نړولې

د کمون تر واک ته رسېدو سره، د پاریس ۲ ملیونه ښاري نفوس ته د ټولنیزو خدماتو په برخه کې بېساري کارونه وسول. د کمون د پرېکړو له مخې، د پاریس ښار د محاصرې په موده کې، د کورونو کرایه خلګو ته وبخښل سول (د محاصرې په دوران کې د کورونو خاوندانو اجارې او کرایې څو چنده زیاتي کړي وې) د پاریس ښار د ډوډۍ په پخلنځایونو کې شپنی کار لغوه سو، د اعدامونو د حکم لړۍ ودرول سول، د ملي ګارډ وژل سویو غړو کورنیو ته حقوق په پام کې ونیول سول، عامو خلګو ته د پورونو په ورکړه کې د ځنډ مهلت ورکول سو، د کلیسا شتمنۍ او توکي کمون ته وسپارل سوې او زده کړې یې ټولو ښاریانو ته وړیا کړلې. عمومي خوړنځایونه جوړ سول او د پاریس کمون د خپل بیرغ لپاره

سور رنګ وټاکه. عامو خلګو کولای سوای هر مهال په کمون کي خپل ټاکل سوی وکیل لیري کړي او د کمون نمایندګانو ته هم د عادي کارګرانو په اندازه امتیازات ورکول کېدل.

د اروپایي پانګوالۍ لپاره د داسي یوه کارګري – کموني حکومت جوړېدل د زغملو نه وه او د فرانسې حکومت د پروس د امپراطورۍ سره په ګډه (چي څو میاشتي مخکي یې په خپلمنځي جګړو کي زرګونه انسانان ووژل) د پاریس پر ښار او د هغه پر کموني حاکمیت باندي حمله وکړل.

د پاریس د کمون په دفاع کي د ښار ۳۰ زره اوسېدونکي ووژل سول او وروسته له هغه چي پروسیانو او فرانسې امپراطورۍ په ګډه د پاریس ښار ونیو؛ ۵۰ زره نور کمونران یې اعدام کړل او لسګونه زره نور یې تبعید کړل.(Cheh, ۱۹٦٦)

د پاریس کمون د ۱۸۷۱ کال د مارچ د ۲٦ نیټې څخه بیا د مي میاشتي تر ۲۸ نیټې پوري (اویا ورځي) دوام وکړ.

د پاریس کمون د سوسیالیستي انقلابونو لپاره ارزښتناکي تجربې او درسونه پرېښودل، چي وروسته د اکتوبر په انقلاب او وروسته انقلابونو کي اغېزناکه ګټه ورڅخه واخیستل سول.

د ملګري مارکس له قوله، د کمون ځیني تېروتني دا وې[۱]:

[۱] - د پاریس د کمون په اړه د کارل مارکس په دغو درو آثارو کي ډېر توضیحات سته: اتلسم برموور لویي بناپارت، په فرانسه کي کورنۍ جګړې، په فرانسه کي طبقاتي جګړې

۱ – د پـانگوالې د عناصـرو پرېښـودل: د پـاریس کمونرانـو د پـانگوالې عناصـر پرېښـودل، چـي وارسـای تـه ولاړ سـي او هلتـه خپـل ځواکونـه بیـا را ټـول کـړي. پـه هغـو لومړیـو لسـو ورځـو کـي، چـي د پـاریس کمـون پـه داخلـي اصـلاحاتو او ټـاکنو بانـدي لگیـا وو؛ بایـد د هغـه پـر ځـای وارسـای تـه د پـانگوالې پـه پـاتي شـونو پسـي ورغلـي وای او هلتـه یـې ټکـولي وای. مـارکس پـه هماغـه میاشـت کـارل لیکنبښـت تـه پـه خپـل لیـک کـي لیکلـي وه، چـي د پاریس کمون به د خپل شرافت څخه ماته وخوري.

۲ – د چټکـي اقتصـادي سـازماندهۍ نـه را منځتـه کـول: د پـاریس کمونرانـو د فرانسـې پـه ملـي بانـک کـي د پـانگوالو غونډي سـوي شـتمنۍ د ټـولني د خلگـو پـه گټـه پرکـار وانـه چـولې او د یـو پروډونیسـټ پـه خولـه یـې پـر خپـل حـال پرېښـودلې. داسـي څـو نـور مـوارد هـم وه، چـي د دې لامـل سـول، کمـونران یـو چټکه اقتصادي سازماندهي ترسره نه سي کړای.

۳ – د سیاسـي هسـتې نـه شـتون: د پـاریس کمـون متمرکـزه گونـدي رهبـري او هسـته نـه درلـودل او ویـې نسـوای کـړای، چـي چـاري یـوه ډلـه حرفـوي انقلابیونـو تـه وسـپاري. همـدا د دې لامـل سـول، چـي اجرایـوي انحطـاط را منځتـه او دوښـمن لـه هغـه څخـه گټه واخلي. همـدغو ټکـو تـه پـه پـام سـره، وروسـته لنـین د حرفـوي انقلابیونـو د یـوې ډلـي پـر شـتون او روزلـو بانـدي ډېـر ټینگـار کاوه.

## د اکتوبر انقلاب د پیښېدلو څرنګوالی (۱۹۱۷ فبروري - اکتوبر)

وړاندې مو یادونه وکړه، چې د نورې نړۍ تر څنګ، په روسیه کې هم مارکسیستانو خپل انقلابي سازمانونه جوړ کړي وه او په بیلابېلو سیاسي پېښو او تاریخي اوښتونونو کې یې د خپلې برخې ونډه اخیستل، چې په هغو کې د روسیې د ۱۹۰۵ کال بورژوا ډموکراتیک انقلاب هم وو.

د روسیې د مارکسیستي - انقلابي جریانونو څخه وروسته – وروسته، د روسیې په سوسیال ډموکراټ ګوند کې یوه ډله اصولي او په مارکسیستي تیورۍ تر ټولو آګاه ډلې خپله لار له نورو منحرفینو څخه جلا کړل او مخفي، تر ځمکې لاندې او پټې مبارزې ته یې دوام ورکړ، دا ډله «بلشویکان» نومېدل. د دې ډلې رهبري د ولادمیر ایلیچ لنین په لاس کې وه، چې په پیل کې د روسیې د سوسیال ډموکرات انقلابي ګوند سره وو. د ۱۹۰۵ کال د انقلاب وروسته، بلشویکانو خپل مخفي فعالیت ته په روسیې دننه او بهر په تبعید کې دوام ورکړ. د بلشویکانو کار ډېر علني نه وو، خو د اصولي - مخفي انقلابي کار اغېزه یې خورا ډېره وه. بلشویکانو د منحرفو او تش په نوم مارکسیستي ډلو، لکه منشویکانو، سوسیال ډموکراټانو او نورو سره کلکه او نه پخلا کېدونکې مبارزه کول او د خپلو اساسي -

انقلابي کړښو او اصولو څخه يو ګام هم شاته نه تلل. د بلشويکانو استقامت په لوړه بيه هم ورته پرېوتی وو. د سازمان مشري څو واره نيول سوې، تبعيد سوې او ټکول سوې وه. د هغو جملې څخه لنين څو واره د تزاري حکومت له لوري بندي او تبعيد او ستالين اته پلا د سايبريا زندانونو ته استول سوی وو.

کله چي په ۱۹۱۴ کال کي د مستعمراتو پر سر اوله نړيواله جګړه ونښتل؛ بلشويکانو د جګړې کلک مخالفت وکړ، د جګړې ماهيت يې استعماري وګڼئ او د روسيې له خلګو څخه يې غوښتنه وکړل، چي په يادي جګړې کي برخه وانه خلي، خو نورو تش په نوم مارکسيستي جريانونو هغه ناعادلانه او د مستعمرو د وېش پر سر جګړه، په ملي مفاهيمو کي توجيه کول.

دا چي اوله نړيواله جګړه د مستعمراتو پر سر د امپرياليستي هيوادونو لخوا را منځته سوې وه او بلشويکانو په هغه جګړه کي د روسيې د ګډون کلک مخالفت کوئ، خو بيا هم تزاري روسيې په جګړې کي برخه واخيستل؛ د جګړې څخه اوښتو لويو زيانونو په روسيې کي کورنی کړکېچ جوړ کړ او ياد کړکېچ په نهايت کي د بلشويکانو په لاس د سوسياليستي انقلاب د ترسره کولو لپاره عيني او ذهني شرايط برابر کړل.

د خلګو د دوامداره اعتراضونو وروسته د ۱۹۱۷ کال په لومړیو کې تزاري حکومت نسکور سو او ځای یې د بیلابیلو ګوندونو څخه تشکیل سوي موقت حکومت ونیو. موقت حکومت که خپله د ولسي شوراګانو لخوا تشکیل سوی وو؛ خو بیا یې هم واګې د کرنسکي تر مشرۍ لاندې د پانګوالۍ د نمایندګانو په لاس کې وې، په بله خوا کې بلشویکانو هم په شوراګانو کې خپل ټاکونکی نفوذ درلود. د خلګو د تمې سره سم موقت حکومت باید په اول ګام کې روسیه د اولې نړیوالې جګړې څخه را ایستلې وای او بیا یې د اقتصادي او ټولنیزي وضعي د سمون لپاره نوي پروګرامونه تطبیق کړي وای، خو دا چې د موقت حکومت په راس کې کرنسکي او د پانګوالۍ نورو عناصرو نفوذ درلود، نو د څو میاشتو تیرېدو وروسته هم په سیاسي او ټولنیزي اوضاع کې کوم ښکاره بدلون رانه غلی، بحران لا هغسې دوام درلود او روسیه لا هم په اول نړیوال جنګ کې ښکېل وه.

د تزاري حکومت د پرځېدو سربېره، د کړکېچ دوام د یوه بل سیاسي حرکت او اوښتون لپاره شرایط برابر کړل او بلشویکانو د خپلې سیاسي او انقلابي هوښیارۍ، تیزبینۍ او شناخت او د [مشخصي وضعي څخه د مشخص تحلیل] د

اصل سره سم، په سوسیالیستي انقلاب باندي د کړکېچ د پای ته رسولو لپاره لاس پر کار سول.

د بلشویکانو رهبری پرېکړه وکړل، چي د (ټوله واک شوراگانو ته) شعار یوه پلا بیا طرحه کړي او هڅه وسي، چي د ټولو شورا گانو مشري بلشویکان په لاس کي واخلي. دا هڅه په پټروگراډ، مسکو، تاشکند او نورو ښارونو کي د بلشویکانو لخوا په بریالي ډول سرته ورسېدل. لنین هغه مهال لا په تبعید کي وو او له هماغه ځایه یې د انقلاب د دوهم پړاو لپاره نوي تزونه ولیکل، چي په هغه کي د انقلاب په دوهم پړاو کي د بلشویکانو وظایف او رسالتونه تشریح سوي او د یوه وسله وال پاڅون د ترسره کولو لپاره طرحه وړاندي سوې وه. بلشویکانو د مشخصي وضعي څخه د مشخص تحلیل پر اساس، د ۱۹۱۷ کال د اکتوبر میاشتي وروستۍ ورځي د وسله وال پاڅون لپاره تر ټولو مناسب وخت وګڼئ او د وسله وال پاڅون لپاره یې د نقشي له مخي تدارکات پیل کړل. د اکتوبر یوویشتمي ته لنین په پټه پټروگراډ ته ځان رسولی وو او هغه مهال چي موقت حکومت د بلشویکانو د جریدې د بندولو او د دوی د مشرانو د نیولو امر صادر او په تعرض یې پیل وکړ؛ نو په هماغه شپه، د اکتوبر پر درویشتمي باندي د بلشویکانو مرکزي کمیټې هم د

پــاڅون لپــاره غونــډه وکــړل او د زينويــف او کــامنوف پرتــه د مرکــزي کميټــې نــورو ټولــو غــړو د پــاڅون لپــاره موافقــه رايــه ورکړل.



انځور: د مرکزي کميټې غونډه، د اکتوبر مياشتي ۲۳ نېټه، ماښام

ورســره ســم د بلشــويکانو تــر رهبــرۍ لانــدي د سوسياليســتي انقــلاب لپــاره وســله وال پــاڅون د اکتــوبر مياشــتي پــر ۲۳ بانــدي، پيـل سـو. پـه پـاڅون کـي غوښـينه برخـه د هغـو کـارگرانو او سـرتېرو وه، چـي د بلشـويک گونـد لخـوا تنظيم سـوي وه. پـاڅون کونکـو پـه ډېـره لنـډه مـوده کـي د پټروگـراد ښـار مرکـزي ځايونـه او دولتـي ودانـۍ ونيـولې او د بشـر پـه تـاريخ کـي د لـومړي ځـل لپـاره د

کـارگرانو او بزگرانـو حاکمیـت تاسـیس او د بشـر پـه تـاریخ کـې د لـومړني سوسياليسـتي انقـلاب لپـاره وسـله وال پـاڅون بريـالی سـو. د اکتـوبر پـر ۲۵ سـهار «د روسـيې خلگـو تـه خطـاب» اعلاميـه چې لنين ليکلې وه؛ خپره سول. په هغه کې راغلي وه:

**«موقـت حکومـت د سـرتېرو او کـارگرانو لخـوا را وپرځـول سو. هغه ارمـان چـې خلگـو د هغـه لپـاره مبـارزه کـول يعنـې، د ډمـوکراټيکې سـولې ببړنـی وړانـديز، پـر ځمکـه بانـدې د لويـو ملکيتونـو لغـوه کـول، پـر توليـد بانـدې د کـارگرانو کنټـرول او د شـوروي (شـورايي) حکومـت تاسـيس نـور رښـتيا سـوي دي.»**

پـه پټروګـراډ کـې د بلشـويکانو د واک تـه رسـېدلو وروسـته، د تـزار او موقت حکومـت پاتـه شونو پـه مسـکو کـې خپـل ځواکونـه ټـول کـړل، تـر څـو پـر پټروګـراډ بانـدې حملـه وکـړي، خـو تـر حملـې مخکـې، پـه مسـکو کـې د بلشـويکانو لخـوا تنظـيم سـوو کـارگرانو او سـرتېرو حملـه بانـدې وکـړل او پـه پټـرو گـراډ پسـې، ډېـر ژر پـه مسـکو کـې هـم د شـوروي سوسياليسـتي حاکميـت تاسيس سـو. تـر مسـکو وروسـته، د روسـيې د اروپـايي برخـې نـور ښـارونه، يـو پـه يـوه، پرتـه ددې چـې د پټروګـراډ څخـه نـور ځواکونـه ورسـي؛ خپلـه پکښـې کـارگرانو پـانګوالي حکومـت

نسکور او پر ځای یې د کارګرانو شوروي حاکمیت تاسیس کړی. د ۱۹۱۷ کال په نومبر کې په ۲۸ ښارونو کې شوروي حاکمیت تاسیس سوی وو. ځینو ښارونو ته د کومي شخړې پرته د اکتوبر انقلاب ورسېد، خو په ځینو ښارونو کې د پانګوالۍ او فیوډالیزم پاته شونو کلک مقاومت کاوه. د تزار او موقت حکومتونو پاته شوني ډُن، اورال، شمالي قفقاز او نورو ساحو ته تښتېدلي وه او د سپینو ګارډانو په نوم یې د فرانسې او انګلستان په مرسته لاسپوڅي نظامي تشکیلات جوړ کړي وه، خو د خلګو په ځانګړي ډول، کارګرانو او بزګرانو لخوا ډېر سخت وټکول سول. د ۱۹۱۷ کال د اکتوبر د پنځه ویشتمي څخه بیا د ۱۹۱۸ کال تر مارچ پوري د پخوانۍ تزاري روسیې پر ټوله قلمرو باندي د شوروي کارګري او بزګري حاکمیت تاسیس سوی وو.



انځور: بلشویکان د انقلاب د پراختیا چاري سمبالوي

د اکتوبر انقلاب په داسي حال کي د پخوانۍ تزاري روسيې تر ټولو سيمو پوري ورسېد، چي د بلشويکانو ټول شمېر تر ۲۴۰۰۰ زيات نه وو، خو په روسيه کي درې ميليونه اشرافو، پانگوالو او د هغوی نظامي او سياسي ځواکونو استوگنه درلودل. د نظامي پرمختگونو په ځنگ کي، د ۱۹۱۸

کـال پـه لومړیـو کـي یـو واحـد کمونسـټ گونـد جـوړ سـو او د سـرتېرو او کـارگرانو د شـوراگانو کنگـرې، چـي د شـوروي حاکمیـت تـر ټولـو عـالي مقـام یـې تشـکیلوئ؛ د چـارو د ښـې رهبـرۍ لپـاره څـو غونـډې وکـړې. د پخـوانۍ تـزاري روسـیې پـه قلمـرو کـي ټولـو ولسـونو د طبقـاتي مبـارزې اهمیـت درک کـړی وو، تـر څـو پـر دوی بانـدي د پېړیـو –پېړیـو وروسـته پاتـه تـوب او ډول –ډول ظلمونـه پـای تـه ورسـېږي. د پخـوانۍ تـزاري روسـیې پـه قلمـرو کـي خلگـو، پـه ځـانگړي ډول زیـار ایسـتونکو پـه ډېـري مینـي او تلوسـې سـره د بلشـویکانو تـر رهبـرۍ لانـدي د اکتـوبر د انقـلاب هرکلـی کـاوه. پـه لنډ مـوده کـي، پـه پراخـه جغرافیـه بانـدي د شـوروي حاکمیـت د تاسیس اصـلي راز پـه همـدې کـي وو، چـي بلشـویکانو د خلگـو پـر خلاقیـت او خلگـو بیـا د بلشـویکانو پـر سـپېڅلتیا او قاطعیـت بـاور درلـود. د بلشـویکانو تـر رهبـرۍ لانـدي، د شـوروي سوسیالیسـتي حاکمیـت د روسـیې د ټولـه قلمـرو تـر آزادولـو وروسـته، سمدسـتي پـه مختلفـو برخـو کـي د پراخـو اصـلاحاتو راوسـتل پیـل کـړل. (تـاریخ حـزب کمونسـت اتحاد جماهیر شوروی, ۱۹۳۹)

# د انقلاب وروسته، د چټکو ګامونو اخیستلو پیل (۱۹۱۷ - ۱۹۱۸)

**۱ – په سیاسي برخه کي:**

**الف:** د اکتوبر د انقلاب د بریالیتوب سره سمدستي د اولي نړیوالي جګړې د پای ته رسولو لپاره د شوروي کارګري او بزګري حکومت خپل د سولي د خبرو پلاوی جرمني ته واستاوه. د جرمنانو د سولي شرایط ډېر سخت وه، خو تر اوږدو خبرو –اترو وروسته د «برست» د سولي تړون د شوروي له لوري (د مشخصي وضعي څخه د مشخص تحلیل د اصل په پام کي نیولو سره) لاسلیک سو، خو بیرته شوروي اتحاد د ۱۹۱۸ کال په نومبر کي لغوه اعلان کړ، ځکه جرمني دخپل برلاسیتوب په سبب دا تړون پر شوروي اتحاد باندي په ډېر ناعادلانه شکل سره تپلی وو.

**ب:** د امپریالیستي هیوادونو سره، د تزاري روسیې ټول هغه استعماري تړونونه، چي پر نورو هیوادونو د سلطې لپاره یې کړي وه؛ لغوه اعلان سول او پر ځای یې په نړیواله سطحه د ملي آزادي بخښونکو، استعمار ضد غورځنګونو او نوي ملي دولتونو څخه د ملاتړ بهرنی سیاست اعلان سو. دا کار په نړۍ

کـــي د ملـــي آزادي غوښـــتونکو غورځنگونـــو د لا پیاوړتیـــا او استعمارونو د کمـزوري کېـدلو لامـل وگرځېـځ. د هغـې جملـې څخـه د افغانسـتان، ترکیـې، چـین او نـورو هیوادونـو تـه د ملـي خپلـواکۍ اخیسـتني ښـې مـوکې برابـري سـوې او هغـو هـم گټـه ورڅخـه واخیسـتل. ترڅنـگ یـې شـوروي اتحـاد، د نویـو آزادو سویو هیوادونو سره، د امکان تر حده مادي مرستي هم وکړي.

**ج:** تـر انقـلاب وروسـته، د یـوه پیـاوړي ډموکراتیـک سیاسـي مرکزیـت د ایجـاد لپـاره کـار تـه اړتیـا وه، تـر څو د پخـواني سیاسـي سیسـتم تـر ټولـو ښـه بـدیل وگرځـي او ټولـو خلگـو تـه پـه سیاسـي چـارو کـي د برخـي اخیسـتلو لپـاره ونـډه ورکـول سـي. د دې کـار لپـاره د ټـول هیـواد د کـارگرانو، بزگرانـو او سـرتېرو شـوراگاني سـره منسـجمي او یـو ځـای سـوې او یـوه گـډه کنگـره او انتخـابي عـالي شـورا یـې جـوړه کـړل، چـي د کـارگرانو او بزگرانـو د هیـواد ټـولي چـاري بـه د ډموکراتیـک سـانټریالیزم د اصـل پـر اسـاس هغـه شـورا مخته سمبالوي.

## ۲ - په اقتصادي برخه کي:

دا چـي د تـزاري روسـیې د فیـوډالي او پـانگوالي وروسـته پاتـه تـوب انـدازه بېخـي زیاتـه وه او د نـوي کېـدلو، بـدلون او سـمون لپـاره یـې زیـات کـار تـه اړتیـا درلـودل؛ نـو د اکتـوبر د انقـلاب تـر

بریالي کېدو وروسته د بېړنیو ګامونو اخیستلو په لړ کي تر ټولو وړاندي «ځمکه» په ټول شوروي اتحاد کي ملي اعلان سوه. ور پسې په تولیدي موسساتو کي د [کارګري کنټرول] اصل راووت، تر څو خپله کارګران د مدیریت، حسابدارۍ، کنټرول او نورو چارو سره بلد سي او تولید خپله سمبال کړای سي. ورو – ورو تر ۱۰۰۰ پوري تولیدي بنسټونه ملي سول. ټرانسپورټ ملي سو. بهرنۍ سوداګري ملي سول. بانکونه ملي سول. له سودي پورونو څخه بزګران خلاص سول او د مالدارۍ میلیونونه حیوانات پر بزګرانو ووېشل سول. د اونۍ په ټولو ورځو کي، تر ۱۴ کلنۍ پوري ټولو ماشومانو ته د هر ډول تبعیض پرته، د وړیا تغذیې چاري حکومت پر غاړه واخیستې. د لومړي ځل لپاره د ټولو خلګو د هستوګني حق په رسمیت وپېژندل سو او خلګو ته د کور، هستوګنځي او سرپنا برابرول د دولت دنده وګرځېدل.

د الکټروفیکېشن [بریښنا رسوني] د طرحي لپاره ۱۵ کلن پلان جوړ سو، خو طرحه په لسو کالو کي بشپړه سول او د روسیې د لیري پرتو سیمو د بزګرانو تر کورونو هم بریښنا ورسېدل.

### ۳ – د ملتونو د حقوقو په برخه کي:

دا چې د پېړيو – پېړيو راهيسي په تزاري روسيه کي د نورو ملتونو د حقوقو، ژبي او کلتور ته پام نه کېده او په ناوړه فيوډالي وروسته پاته توب او استبداد کي ساتل سوي وه؛ نو د اکتوبر د انقلاب د بريالیتوب سره سمدستي د روسيې د ملتونو د حقوقو اعلاميه د بلشويکانو او شوراگانو د کنگرې لخوا خپره سوه او په هغه کي هر ډول قومي، نژادي، مذهبي تعصبونه، برترئ او بدترئ لغوه اعلان سوې. د روسيې د مسلمانانو پر مذهبي مراسمو باندي، چي د تزاري حکومت لخوا بنديزونه لگول سوي وه؛ لغوه سول او ملتونو ته تر دې بريده ملي حقوق ورکول سول، چي کولای يې سوای د شوروي روسيې څخه جلا خپل خپلواک دولتونه جوړ کړي. له هغه حق څخه فنلنډ، اوکراين او پولنډ گټه واخيستل، ځان يې د شوروي اتحاد څخه جلا کړ او خپل خپلواک دولتونه يې جوړ کړل. د ملتونو لپاره يوه کميساري جوړه سوه، چي مشري يې ملگري ستالين کوله.

### ۴ - په فرهنگي برخه کي:

په فرهنگي برخه کي د بېړنيو گامونو اخيستلو پر مهال، تر هر څه لومړی پر ټولو ماشومانو زده کړه جبري سول او ټول کتابتونونه، ننداړتونونه، موزيمونه او علمي مراکز ملي اعلان

سول، تر څو خلګ په آزادانه ډول مراجعه ورته وکړي او خپله علمي او فرهنګي کچه لوړه کړي. په ۱۹۱۹ کال کي ټول استراحت ځایونه ملي سول او زیار ایستونکو خلګو هم کولای سوای د هغو څخه د مهالوېش سره سم ګټه واخلي. ښځو او د منځنۍ آسیا د هیوادونو وګړو ته هم د زده کړو حق هم ورکول سو (مخکي ښځو یوازي په مشخصو برخو کي زده کړي کولای سوای او منځنۍ آسیا خلګو ته د عصري زده کړو موکې ډېري کمي وې.)

## کورنۍ جګړه (۱۹۱۸ - ۱۹۲۲)

کله چي له جرمني سره سوله وسول، بلشویکانو د پخوانۍ تزاري روسيې ټوله قلمرو ونیو او هلته یې سوسیالیستي حاکمیت تامین کړ. په دا موکه کي بلشویکانو یوه لنډه د آرامۍ ساه وکښل او یو شمېر اساسي اصلاحات یې راوستل، خو د اقتصاد سوسیالیستي سمبالښت یې د اقتصادي وضعي د سمون او د پېړیو - پېړیو اقتصادي وروسته پاته توب د له منځه وړلو لپاره لا نه وو پیل کړی، چي د ختیځ لخوا څخه امریکایانو او جاپانیانو او د لویدیځ لخوا څخه انګرېزانو او فرانسویانو پر شوروي اتحاد باندي تېری وکړ. د شوروي اتحاد په ختیځ کي، د انګرېزانو په لمسون د فیوډالیزم پاته شونو،

تنگ نظره قبیلوي جریانونو او دیني مرتجعینو روحانیونو چې ټولو د نړیوالي پانگوالۍ او امپریالیزم سره یو ځای خپلې طبقاتي گټې د شوروي حاکمیت په شتون کې، د گواښ سره مخ گڼلې؛ بغاوتونه وکړل. د شوروي اتحاد د جمهوریتونو په نورو برخو کې د انگلستان، فرانسې او امریکا په مالي تمویل، د پخوانۍ تزاري روسیې یو شمېر اشرافي جنرالانو (کلچاک، دنکین، میلر) او نورو ته یې وسلې ورکړې او د دوی لپاره یې نظامي تشکیلات جوړ کړل. هممهاله، د سویل، ختیځ، لویدیځ او شمال لویدیځ څخه د شوروي په نوي زیږېدلي ځوان سوسیالیستي جمهوریت باندي حمله وسوه او په ډېرو سیمو کې یې بلشویکان منظم پر شاتگ ته اړ ایستل.

د دې جگړې او تېري ماهیت په واقعیت کې پر سوسیالیزم باندي، د پانگوالۍ او فیوډالیزم د داخلي عناصرو او د هغوی د نړیوالو امپریالیستي مرستندویانو حمله وه، چې د شوروي حاکمیت تامین یې د خپلو ټولو سیاسي، اقتصادي، طبقاتي او ستراتیژیکو گټو سره په ټکر کې لیدئ. په دغه وخت کې د شوروي او نړۍ د زیارایستونکو پر لارښود ملگري ولادمیر ایلیچ لنین د ترور ناکامه هڅه هم وسول، چې په ترخ کې یې

ملګری لنین ټپي سو، خو پر بدن یې داسي ټپونه ور جوړ کړل، چي وروسته یې هغه ټپونه د مړیني لامل سول.



انځور: د کورنۍ جګړې پر مهال، د سره پوځ مارش

هر ځای چي به د پانګوالۍ او فیوډالیزم نمایندګانو لاس ته بیا لوېدئ؛ د بلشویکانو لخوا راوستل سوي ټول اصلاحات او آزادۍ به یې له منځه وړلې. د بیلګي په ډول، د ورځني کار موده به یې ۱۰ ساعتونو ته پورته کړل او د ماشومانو د وړیا تغذیې سیستم به یې له منځه یووړ. بلشویکان هم د دغو سختو شرایطو سره د مبارزې او د جګړې د تهیې او تدارک لپاره لاس پر کار سول. د «نظامي کمونیزم» د سیستم په را

منځته کولو سره ټولي سرچيني د جګړې لپاره سره يو ځای سوې. پنځه مليونه کارګران، بزګران او سرتېري سره ټول سول او د سره پوځ لوی تشکيلات يې جوړ کړل. د بهرنيو تېري کونکو او کورنيو باغيانو سره د بلشويکانو جګړې د ۱۹۱۸ کال د پای څخه پيل او تر ۱۹۲۲ کال پوري يې دوام وکړ، چې خورا زيات مالي او ځاني زيانونه يې درلودل.

خلګو، په ځانګړي ډول د زيار ايستونکو، کارګرانو او بزګرانو د طبقاتو په ملاتړ، سره پوځ د شوروي جمهوريتونو ټول قلمروونه د بهرنيو تېري کونکو او کورني اړو و دوړ جوړونکو عناصرو څخه تفصيه کړل. انګرېزان، فرانسويان، امريکايان او جاپانيان، ټول د شوروي حاکميت د سيمو پرېښودلو ته اړ سول او ووتل. د کورنۍ جګړې عناصرو او د کلچاک، دنکين او جنرال ميلر وسله والو هم ټولو شرمونکې ماته وخوړل. د شوروي حاکميت پر آزادو سويو سيمو باندي يوه پلا بيا د پرولتاريا ديکتاتوري او د کارګرانو او بزګرانو حکومت تامين سو، خو کورنۍ جګړې خورا ډېر مالي او ځاني زيانونه هم واړول او د شوروي اتحاد نوي سوسياليستي اقتصاد ته يې داسي ټکانونه ورکړل، چې اغيزې يې وروسته ښکاره سوې.

## نپ (نوی اقتصادي سیاست ۱۹۲۱ - ۱۹۲۹)

د کورنۍ جګړې او بهرنیو هیوادونو د تېري پر مهال د شوروي اتحاد سلګونه ښارونه وران سول، میلیونونه انسانان تلف سول، اقتصادي او پرمختیایي زیربناوي ونړېدې، شاړې ځمکې ډېرې سوې او زراعت ټکنی سو. صنعتي تولیدات، د ۱۹۱۴ کال په نسبت اووه برابره لږ سول او د متحرکو سرچینو ډېره برخه په جګړه کې لګېدلې وې. د جګړې او نظامي تېري په واسطه تحمیل سویو اقتصادي ورانیو او خرابیو اقتصادي بحران را منځته کړی وو او د بحران سره د ټولنیز اغتشاش او ګډوډیو د جوړېدلو ګواښونه هم ول. د جګړې تر ختم او د دوښمنانو تر هر اړخیزي ماتي وروسته، مخالفینو هڅه کول د اقتصادي ورانیو د بهانې په نیولو سره خلګ وپاروي او دوی ته داسي ذهنیت ورکړي، لکه سوسیالیستي دولت چې هم د پانګوالۍ او فیوډالیزم په شان د خلګو حقوق تر پښو لاندي کوي. په ځینو ځایونو کې د انقلاب ضد عناصرو خلګ پارول. د خلګو مطالبات پر حقه وه، خو رهبري یې د انارشیستانو او نورو واک غوښتونکو ډلو په لاس کې وه او عملاً یې خلګ د سوسیالیستي انقلاب پر ضد را پارول. د

جگړې د ختم سره په کار وه، چې د نظامي کمونیزم د سیستم پر ځای ځو اړخیزه اقتصادي سیستم را منځته او د اقتصادي ورانیو د رغولو لپاره پانگوالی او بزگرانو دواړو ته د آزادي سیالی او رهبري کېدونکي اقتصاد په شرایطو کې (څه ډول چې اوس د چین د خلگو په جمهوریت، د ویتنام د خلگو په جهوریت، لاووس او کوبا کې هم هماغسې ده) ونډه ورکول سي. د کارگرانو او بزگرانو ترمنځ پخوانی سیاسي یووالی باید په اقتصادي یووالي هم واوړي او د سوسیالیستي ځواکونو ترڅنگ د فیوډالیزم او پانگه والی پاتي شوني هم د اقتصادي رغوني په چارو کې برخه واخلي. د نوي اقتصادي سیاست اساسي اصول د لنین لخوا طرحه سول او دا مسئله د بلشویک گوند په لسمه کنگره کې په هر اړخیز ډول وڅېړل سوه. د کنگرې پر مهال، د ډموکراتیک سنتریالیزم د اصولو په چوکاټ کې تر بحث وروسته د نپ (نوي اقتصادي سیاست) طرحه تائید سوه او پر عملي کېدو یې کار پیل سو. د آزاد رقابت په سیستم کې سوسیالیستي مالکیت بیا هم خپل ځان ته ځانگړی ځای درلود او د مالکیت د نورو شکلونو سره یې بریالی رقابت کاوه. د درنو صنایعو ډېره برخه بیا هم سوسیالیستي وه، پر لوی اقتصاد باندي څارنه زیاته وه، خو پر

کوچني اقتصاد جدي خارني ودرول سوې. میلیونونه بزگران حاصل خیزو ځمکو ته انتقال سول او د وړیا تغذیوي سیستم خوراکي ځایونه جوړ سول. د نپ سیاست د ۱۹۲۱ کال څخه تر ۱۹۲۸ کال پوري دوام وکړ، تر څو وروسته شوروي اتحاد په اساسي ډول د سوسیالیستي اقتصاد پر لور، پیاوړي، مضبوطه، مخکښ، چټک او نه ماتېدونکي، بریالي گامونه کښېښودل.

## د شوروي جمهوریتونو تشکیل او اتحاد (۱۹۲۲ - ۱۹۲۴)

د تزاري روسیې پېړیو - پېړیو حاکمیتونو، د دوی تر قلمرو لاندي پر نورو سیمو، قومونو او ملتونو باندي بیلابېل ملي، فرهنگي، اقتصادي او سیاسي محدودیتونه او ظلمونه تپلي ول. د هغو جملې څخه د روسیې ځیني پاچاهانو په زوره هڅه کول چي د تزاري روسیې په قلمرو کي پر نورو محکومو قومونو باندي روسي فرهنگ او روسي ژبه وتپي او په نورو سیمو کي د روسیانیزاېشن (روسي کولو) لړۍ عملي کړي. کله چي تزاري حاکمیت او پاتي شوني یې د اکتوبر د سوسیالیستي انقلاب په ترخ کي وپرځول سول او پر ځای یې

د چـارو واگـي بلشـويکانو پـه لاس کـي واخيسـتې؛ د پخـوانۍ تـزاري روسـيې پـه قلمـرو کـي د مېشـتو ملتونـو او قومونـو د ملـي حقوقـو تـامين تـه د يـوې اساسـي مسـئلې پـه توگـه پـام کېـدئ، ځکــه د محکومــو ملتونــو ســيمي ډېــري وروســته پــاتي وې، د فيـوډاليزم د مناسـباتو پـه چوکـاټ کـي د قبيلـوي خانـانو لخـوا اداره کېـدلې او د خپـل ملـي حاکميـت پـه تـامين بانـدي نـه وه بريـالي سـوي. دا چـي سوسـياليزم د پـانگوالۍ پـر خـلاف خپلـي گټـي د نـورو ملتونـو پـه نيولـو او اسـتعمارولو کـي نـه وينـي او دا لا خپـل رسـالت بـولي چـي د نـورو ملتونـو سـره د هغـوی پـه آزادۍ کـي مرسـته وکـړي (لکـه څـه ډول چـي يـې وهـم کـړل) نـو بلشـويکانو هـم د تـزاري روسـيې پـه قلمـرو کـي د مېشـتو اقليتونـو د حقوقـو د تـامين لپـاره د يـو ميکـانيزم جـوړول د خپلـو لومړيتوبونـو څخـه وگرځوئ.



انځور: د شوروي اتحاد د متحدو شوراګانو کنګره ۱۹۲۴

ملګري لنین دا نظریه طرحه کړه، چي په یوه شورایي اتحاد کي باید د ټولو ملتونو متساوي الحقوقه جمهوریتونه تشکیل سي. دا نظر د کمونست ګوند سیاسي بیرو او د شورا ګانو په کنګرې کي ومنل سو او د متساوي الحقوقه سوسیالیستي جمهوریتونو د تشکیل لپاره کار پیل سو، چي واحد سیاسي، نظامي او اقتصادي ټولګي ولري. په لومړي سر کي د اوکراین او بلا روسیې جمهوریتونو، د مختلفو هوکړه لیکونو له مخي خپل اتحاد، د شوروي روسیې د سوسیالیستي جمهوریت سره تامین کړ او وروسته نورو جمهوریتونو هم خپل بیلابیل هوکړه

لیکونه د شوروي روسیې سره امضاء کړل. د ۱۹۲۲ کال څخه د شوروي اتحاد د واحد کمونسټ ګوند د جوړولو چې د ټولو جمهوریتونو د کمونستو ګوندونو څخه تشکیل سوی وي؛ لپاره هم کار پیل سو. په مختلفو اړخونو کي دا هڅو څو کاله وخت ونیو. وروسته له هغه چي د جمهوریتونو ترمنځ پولي او قلمرونه معلوم او وټاکل سول؛ په ۱۹۲۴ کال کي د ټولو جمهوریتونو د نمایندګانو لخوا تدوین سوی اساسي قانون د شوروي اتحاد د متحدو شوراګانو کنګرې ته وړاندي او تصویب سو. په هغه قانون کي د جمهوریتونو اړوند ټول سیاسي، اداري او اقتصادي مسایل واضح سوي ول. د قانون له مخي د شوروي جمهوریتونو د اتحاد څخه هر جمهوریت د دې حق درلود، چي یا له اتحاد څخه ووځي، یا د شوروي اتحاد په اساسي قانون کي د بدلون غوښتونکی سي. په اساسي قانون کي د ټولو جمهوریتونو پولي ثابتي او نه اوښتونکي منل سوي وې. د اساسي قانون تر تصویب وروسته په رسمي ډول د لاندي جمهوریتونو څخه تشکیل سوی واحد د شوروي د سوسیالیستي جمهوریتونو اتحاد اعلان سو:

۱ – د شوروي روسیې د فدراسیون سوسیالیستي جمهوریت

۲ – د شوروي اوکراين سوسياليستي جمهوريت

۳ – د شوروي بلا روسيې سوسياليستي جمهوريت

۴ – د شوروي ارمنستان سوسياليستي جمهوريت

۵ – د شوروي بخارا خلقي جمهوريت

۶ – د شوروي گرجستان سوسياليستي جمهوريت

۷ – د شوروي د ليري ختيځ سوسياليستي جمهوريت

۸ – د شوروي د خوارزم سوسياليستي جمهوريت

۹ – د ليري ققفاز شوروي سوسياليستي جمهوريت

په وروسته وختونو کي د تاجکستان، ازبکستان، قزاقستان، آذربايجان، قرغزستان، لاتويا، لتوانيا او ترکمنستان خپلواک شوروي سوسياليستي جمهوريتونه هم د خلگو په غوښتنه را منځته سول، پولي يې معلومي سوې او د شوروي اتحاد سوسياليستي جمهوريتونو اتحاد ته داخل سول. د دغو جمهوريتونو د چوکاټ ترځنگ، ځو خود مختاري سيمي هم په شوروي اتحاد کي شاملي وې.

د جمهوريتونو تر اتحاد وروسته د پخواني تزاري روسيې محکومو ملتونو ته د آزادي ملي او فرهنگي ودي شرايط برابر سول. په هره سيمه کي د روسي پر ځاى په مورنيو ژبو تدريس

پیل سو، د اقتصادي وروسته پاته توب د رفعې لپاره چټک گامونه واخیستل سول او د اکتوبر د انقلاب په وروستیو لویو اوښتونونو کي هر جمهوریت او خلگو یې خپل ځای درلود. د جمهوریتونو د رهبرۍ تر ټولو لوړ ارگان د شوراگانو کنگره وه، چي د هر جمهوریت څخه په ښاري سیمو کي د ۲۵ زره کسانو پر سر یو نماینده او په کلیوالي سیمو کي د ۱۲۵ زره کسانو پر سر یو نماینده ټاکل کېده.



انځور: د شوراگانو د کنگرې یوه څنډه

په داسي حال کي چي پانگوالي هیوادونه د لا زیاتو مستعمرو په لټه ول؛ د بلشویکانو په نوښت د سوسیالیستي

روسیې د جمهوریتونو ملي سیاست چې پکښې محکومو قومونو ته د پولو ټاکل او د سیاسي، فرهنګي او ملي حقوقو ورکول شامل وه؛ د امپریالیزم په عصر کې یو لوی تاریخي اوښتون را منځته کړ او د ملي آزادي بخښونکو غورځنګونو په منځ کې یې انګیزه خپره کړل. دا سیاست په نړۍ کې د استعمارونو پر وړاندې د ملي آزادي بخښونکو مبارزو د چټکتیا لامل سو او د فدرالیزم او ملي حقوقو د تامین لپاره سوسیالیزم خپل تر ټولو ښه الټرنټیف وړاندې کړ.

## د بیارغوني پای او د پرمختللي او صنعتي سوسیالیزم د اقتصادي بنسټونو جوړول (۱۹۲۹ - ۱۹۳۹)

وروسته له هغه چې د لومړۍ نړیوالي جګړې او کورنۍ جګړې په ترخ کې اوښتي زیانونه د بیارغوني او نوي اقتصادي سیاست (نپ) په چوکاټ کې له سره ورغېدل او د سوسیالیزم او شوروي حاکمیت سیاسي او ولسي ریښې د شوروي جمهوریتونو او سوسیالیستي ډموکراسۍ په جوړولو سره تامین سولې؛ نو د پرمختللي سوسیالیزم د جوړولو او طبقاتي دوښمنانو څخه د مخکې کېدلو لپاره یو بل مضبوطه پرمختګ

په کار وو او هغه دا چې ملي اقتصاد، په مکمل ډول صنعتي او په سوسیالیستي چوکاټ کې رهبري سي.

د تیوریک اړخه هم، دا چې سوسیالیزم یوازي په پرمختللو او د ماډرن صنعتي او بریښنایي اقتصاد په شرایطو کې جوړېدلای سي؛ د دې لپاره شوروي اتحاد اړ وو، چې خپل کرنیز ملي اقتصاد، د نوي تخنیک د معیارونو سره سم په یو پرمختللي صنعتي ملي اقتصاد باندي واړوي.

د صنعتي کولو پروسه د سیاسي، ټولنیزو او تخنیکي اړخونو څخه ډېري پېچلتیاوي لري، ځکه د نوي تخنیک، مولده ځواکونو او فرهنګي بدلونونو زمینې ورته پکار دي. په پرمختللو صنعتي پانګوالي هیوادونو کې د صنعتي کېدلو پروسه په خپل تاریخي تګلوري کې، د څو سوه کلونو لاري وهلو سره را منځته سوې وه او د صنعتي کېدلو د چټکتیا لپاره یې د نړۍ په ختیځ او لویدیځ، سویل او شمال کې لوی استعمارونه جوړ کړل، خو شوروي اتحاد چې نه یې مستعمرې درلودې او نه یې څو سوه کاله وخت درلود - ځکه نړیوال امپریالیزم او اروپایي فاشیزم یې د محوه کولو لپاره په ډېري چټکۍ سره د جګړې ترتیبات نیوله - اړ وو چې په یوازي سر، په سوسیالیستي چوکاټ کې ځان صنعتي کړي او د پانګوالۍ د تاریخي تګلوري په نفي او د منابعو په چټکي انساني مهندسۍ سره، په ډېره کمه موده کي د اقتصادي او تخنیکي پرمختګ هغه لاره ووهي، چې پانګوالي هیوادونو د

استعمارونو سربېره په سلو – دوو سوو کلونو کې وهلې وه. د ملګري ستالین دې ټکي ته تر ټولو زیات پام وو او ویې ویل، چې که موږ په لس کاله کې د پرمختللو هیوادونو د سلو کالو لاره ونه وهو؛ زموږ طبقاتي دوښمنان به مو له منځه یوسي.

د صنعتي کولو لپاره د شوروي اتحاد په کمونست ګوند کې دننه هم بېلابېل نظریات ول. ځینو د صنعتي کېدلو طبیعي تګلوری غوښت او ځینو بیا غوښتل چې د وړو او کوچنیو صنایعو د تولید څخه باید د شوروي اتحاد صنعتي کول پیل سي. په پای کې، د ډېرو بحثونو وروسته تر ټولو علمي او اقتصادي نظر چې هغه د غیر متوازني ودي لاري، په درنو صنایعو باندي د زیاتي پانګوني سره، په ټول هیواد کې د صنعتي کولو پیل وو؛ ومنل سو او په ۱۹۲۹ کال کې د صنعتي کولو لپاره د شوروي اتحاد لومړی پنځه کلن اقتصادي پلان جوړ سو.




انځور: په شوروي اتحاد کې د صنعتي کولو او نوي اساسي قانون د دوران يو پوسټر

د لومړي پنځه کلن پلان د عملي کولو پر مهال په شوروي اتحاد کې ۱۵۰۰ د درنو صنايعو فابريکې جوړې سولې. ورسره يو ځای د ميکانيزه او تعاوني کرنې لپاره د «کالخوزونو» او «سالخوزونو» جوړښتونه را منځته سول او د فرهنګي پرمختګونو لړۍ هم د بېسوادۍ سره د مبارزې په چټکولو او نورو برخو کې دېري وې.

لومړی پنځه کلان پلان ټاکل سويو موخو ته، د پنځو کالو پر ځای په څلورو کالو کې ورسيد او د شوروي اتحاد په ملي اقتصاد، کرنې او فرهنګي برخو کې يې لوی بدلونونه راوستل.

سمدستي ور پسې دوهم پنځه کلن پلان جوړ او عملي سو. دوهم پنځه کلن پلان هم تر خپلي ټاکل سوي مودې نهه میاشتي مخکي ټاکلو موخو ته ورسېد. (زوگانوف, ۲۰۱۰)

د دوهم پنځه کلن د پای ته رسېدلو سره په شوروي اتحاد کي مکمل ټول اقتصاد سوسیالیستي سو او درنو صنایعو په ملي اقتصاد کي ټاکلی ځای درلودئ. کرنه هم ټوله میکانیزه سوې او تعاوني سوې وه. کټ – مټ هماغسي لکه ملگري سټالین چي یې یادونه کړې وه؛ شوروي اتحاد د اقتصاد د سوسیالیستي سمبالوني سره، د سلو کالو لاره په لسو کالو کي ووهل او شوروي اتحاد د نړۍ په دوهم لوی تولیدي اقتصاد باندي واوښت.

د اکتوبر د انقلاب سره را منځته سوي، سوسیالیستي کار، سوسیالیستي سازماندهۍ او سوسیالیستي اقتصاد په ډېره لږه موده کي ډېري اوږدې لاري ووهلې او د پېړیو - پېړیو وروسته پاته توب د شاته کولو او خلگو ته د هوسا ژوند په برابرولو کي یې تر پانگوالۍ خپل څو برابره زیات مخکښ والی ثابت کړ. د اکتوبر انقلاب او سوسیالیزم په بشري ژوندانه کي د چټکو پرمختگونو د راوستلو لپاره خپل اقتصادي ظرفیت ټولي نړۍ ته وښود، چي پانگوالي نړۍ یې هم په عکس العمل کي د خپل ملیټاریستي او پوځي ماهیت سره سم، یادو پرمختگونو ته په وسلو او بریدونو ځواب ورکړ. (اشاره مو دوهمي نړیوالي جگړې ته ده.)

د ۱۹۲۹ څخه تر ۱۹۳۹ پوري د شوروي اتحاد اقتصادي پرمختگونه او اقتصادي صنعتي کېدل ډېر حیرانونکي دي او د اقتصاد د علم زده کړیالانو ته د زده کړي لپاره –په ځانگړي ډول په وروسته پاته هیوادونو کي د اقتصادي سازماندهۍ لپاره –ډېر درسونه او تجربې لري. لېواله لوستونکي کولای سي، په دې اړه د [ستالین او سوسیالیستي اقتصاد تجربه] نومي اثر ولولي.

## دوهمه نړیواله جگړه (۱۹۳۹ - ۱۹۴۵)

په ۱۹۳۹ کال کي، د دوو پنځه کلنو اقتصادي پلانونو په عملي کولو او د ټول اقتصاد د سوسیالیستي کولو سره، د شوروي اتحاد ټولو خلگو ته د کار، زده کړي او سرپنا زمینه برابره سول. شوروي اتحاد د نړۍ په دوهم اقتصادي ځواک اوښتی وو او لوی پرمختگونه یې درلودل. د شوروي اتحاد د صنعتي کولو او سوسیالیزم د لویو او نړیوالو بریالیتوبونو پر مهال، په جرمني کي د هټلر په مشرۍ فاشیستي واکمني د نړیوالي پانگوالۍ په لمسون او مرسته را منځته سوه. دا واکمني د پانگوالۍ بدترینه او وحشي ترینه استبدادي شکل وو او نظري اساسات یې د [ملت، طبیعت او جنگ] څخه تشکیل سوي ول. (jack, ۲۰۱۳)

په دې مانا چي جرمن [ملت] د نړۍ تر ټولو متمدن او پرمختللی نژاد دی او باید پر ټولي نوري نړۍ باندي واکمني

وکړي، ځکه نوره نړۍ له ټیټ نژاد څخه ده. د [طبیعت] څخه موخه جرمن نژاد ته طبیعي برتري ورکول او نور ټول ملتونه په طبیعي ډول وروسته پاته او د ټیټ نژاد څخه ګڼل وه. د [جنګ] څخه بیا موخه په دوامداره او دایمي جګړې او ویني تویوني باندي باور وو. جرمن فاشیستان په دې باور وه، چي د نړۍ پر نورو نا متمدنو ملتونو باندي یوازي د جګړې له لاري برلاسه کېدلای سي. نژادي جګړه عادلانه جګړه ده او باید دوامداره وي. تر نظري بنسټونو پرهاخوا، د هټلر او جرمن فاشیزم پلان دا وو، چي د وسله والي جګړې او لښکرکشیو سره اول اروپا او بیا د نړۍ ډېري نوري برخي ونیسي. په هغه کي یوازي د جرمن ملت حاکمیت تامین کړي. د نورو نژادونو خلګ به د جرمن نژاد غلامان او کارګران وي او جرمن نژاد به د نړۍ رهبري او امپراطوري پر غاړه لري. ځیني نژادونه لکه یهودیان به یو مخ د نړۍ څخه پاکوي او پاته نور نژادونه به بیا د عالي نژاد یعني جرمنانو لپاره کار کوي.

هغه مهال چي ښه په ښکاره ډول سره، د هټلر لخوا د دوهمي نړیوالي جګړې د پیلیدلو ګواښونه مالومېدل او خطر یې محسوسېدئ؛ هغه مهال هم انګلستان او امریکا د نازي جرمني سره ټینګي اړیکي ساتلي وې او حتی د جنګي کښتیو تبادله یې هم ورسره کړې وه، ځکه دغو هیوادونو فکر کاوه، چي نازي جرمني به تر ټولو وړاندي پر شوروي او سوسیالیزم حمله وکړي، خو ستالین د خپل سیاسي نبوغ له مخي د هټلر

مخ ور واړوه. هټلر د ۱۹۳۹ څخه، د فرانسې او انګلستان سره په جګړه اخته سو او شوروي اتحاد تر ۱۹۴۱ پوري د جګړې څخه ليري پاته سوی وو، خو په دغه وخت کي يې بيا هم د را رواني حتمي جګړې لپاره هر اړخيز تياری ونيو. په ۱۹۴۱ کال کي نازي جرمني پر شوروي اتحاد هم تېری وکړ او پوځيان يې د مسکو تر څنډو پوري ورسېدل. شوروي اتحاد له وړاندي لا د هيواد د لويديځ څخه ډېر صنايع، اوسېدونکي او توکي ختيځ ته انتقال کړي ول او جرمنيانو ته د پوځي برياليتوبونو سره - سره څه غنيمت په لاس نه ورتلئ، خو وروسته له هغه چي ستالين د وسله والو ځواکونو په راس کي د جګړې نظامي رهبري په لاس کي واخيستل، د ستالينګراډ په ښار کي يې فاشيستانو ته داسي ماته ورکړل، چي بيا د جګړې تر پايه پوري يې برياليتوب ونه ليد او تر برلين پوري شاته ولاړل.



انځور: په شوروي اتحاد کې د جګړې د دوران یو پوستر

حیرانونکې ده، چې تر جګړې وړاندې شوروي اتحاد انګلستان، فرانسې او امریکا ته د فاشیزم پر وړاندې د ګډې جبهې د جوړولو ویل، خو دوی ځکه د شوروي اتحاد سره ګډه جبهه نه جوړول، تر څو شوروي او سوسیالیزم د فاشیزم لخوا داسې ګوذارونه وخوري، چې بیا د کلونو لپاره هم د پورته کېدلو وړتیا ونه لري، خو کله چې د ستالینګراډ جګړه بلشویکانو وګټل او دوی وبیریدل چې شوروي اتحاد به پر فاشیزم باندې د خپلو راتلونکو بریالیتوبونو وروسته سوسیالیزم تر ټولې اروپا ورسوي؛ نو د ګډې جبهې جوړولو ته تیار سول. ګډې جبهې یا د متفقینو لوري، د ګډې نظامي همغږۍ له مخې عملیات سازماندهي کړل، چې په ترڅ کې یې د محور

ځواکونــه پــه اروپـا، آسـیا او افریقـا کــې مــاتې او دوامــداره پــر شـاتګ تــه اړ سـولې. د اروپـا د شـمال ختیـځ څخـه، د بـرلین تـر ختیځ پـورې سیمې ټول د شـوروي اتحـاد د سره پـوځ پـه واسـطه د فاشیســتانو څخــه تصـفیه او آزادې سـولې. د شـمالي افریقـا او اروپـا د جنـوب لویـدیځ څخـه بیـا تـر ختـیځ بـرلین پـورې سـیمې امریکـایي، انګرېـزي او فرانسـوي قـواوو لـه فاشیسـتانو څخـه پـاکې کړلـې. موسـولیني پـه ایټالیـا کـې تـرور سـو او د جاپـان قـواوې هـم د امریکـا او شـوروي د قـواوو پـه واسـطه دوامـداره پـر شـاتګ تـه اړ وتلـې، تـر څـو پـه پـای کـې متحـده ایـالاتو پـر جاپـان بـې مـورده اټـومي بمونـه وکـارول (چـې اصلـي موخـه یـې شـوروي اتحـاد تـه خپــل ځــواک ښــودل وو) او د جاپــان لــه فاشیســتي حکومــت څخـه هـم نېښـونه وکښـل سـول. پـه دوهـم نړیـوال جنـګ کـې شــوروي اتحــاد او سوســیالیزم خپــل یــو پــر درې (۳/۱) مکمــل اقتصـادي، بشـري او مـالي سـرچینې لـه لاسـه ورکـړې. جګـړې ۲۵ میلیونـه د شـوروي اتحـاد اتبـاع ووژل او د اقتصـادي اړخـه یـې هـم درانـه زیانونـه ور واړول. د جګـړې وروسـته نـو شـوروي اتحـاد تـه یـوازې د خپـل قلمـرو بیـا رغونـه نـه، بلکـې د نـوي سوسیالیسـتي هیوادونـو چـې تـازه د فاشـیزم څخـه آزاد سـوي وه؛ همکـارۍ او مرســتي هـــم ور دغــاړې وې او د هټلـــري فاشـــیزم د میـــراث خـوړونکي (امریکـایي او نـاټویي امپریـالیزم) پـه وړانـدې یـې بایـد یو نوی پیاوړی سوسیالیستي بلاک جوړ کړی وای.

## د جګړې وروسته بیارغونه او د ساړه جنګ پیلیدل (۱۹۴۵ - ۱۹۵۳)

د دوهمې نړیوالې جګړې له پای ته رسېدو سره د ختیځې اروپا او د شوروي لویدیځې برخې ټولې ورانې سوې وې. ملیونونه - ملیونونه ځوان کاري نفوس له منځه تللی وو. اقتصادي سرچینې ټولې په جګړو لګېدلې وې. په لویدیځه اروپا کې انګلستان، فرانسې او امریکا لا هم مستعمرات او ورسره وړیا کاري ځواکونه درلودل، چې د هغو څخه په ګټې اخیستنې سره یې کولای سوای، د جګړې اوښتې زیانونه په لږه موده او لږو لګښتونو باندې بیا ورغوي، خو شوروي اتحاد او د ختیځې اروپا هیوادونو کومې مستعمرې نه درلودې، په داسې حال کې چې هټلر خپل اویا سلنه نظامي ظرفیتونه په ختیځ کې د شوروي پر وړاندې لګولي وه او په جګړه کې تر ټولو زیات زیان هم همدې سیمو ته اوښتی وو. په ۱۹۴۵ کال کې د نړۍ سیاسي مشرانو په جرمني کې ناسته وکړل او تر جګړې وروسته، د اروپا او جرمني د حالت په اړه یې خبرې سره وکړې. پرېکړه پر دې وسول، چې ټول هیوادونه که د امریکا او فرانسې لخوا د فاشیستانو څخه آزاد سوي او که د شوروي لخوا، باید خپله سیاسي او ډموکراتیکه آزادي ولري او جرمني باید دواړو لورو ته د جګړې مالي جبران ورکړي.



انځور: د پوټسدام کنفرانس، د کېنې لوري څخه: ستالین، ټرومن او چرچل (۱۹۴۵)

لنډه موده وروسته چې امریکا په خپل اټومي بم باندې ځواکښودنه کول او په دې هم پوهېدل چې په چټکۍ سره به یې د شوروي اتحاد سره نوې جګړه شروع سي؛ نو یې په اروپا کې خپل سیاسي او نظامي تحرکات شروع کړل، تر څو د ختیځې اروپا هیوادونه، چې د سره پوځ لخوا د فاشیستانو څخه آزاد سوي وه؛ اشغال او د خپلو امپریالیستي موخو لپاره یې وکاروي، خو د شرقي اروپا خلګو او کمونستو ګوندونو چې د امپریالیزم سره د دوستۍ او فاشیزم ترخې تجربې یې تېرې کړې وې؛ دوی ته «نه!» وویل او نوي خپلواک خلقي حکومتونه یې جوړ کړل.

دا خپلواکو هیوادونو د خلقي ډموکراسۍ له لاري، د سوسیالیزم پر لور حرکت شروع کړ او په ډېر لنډ وخت کي يې نه یوازي د سوسیالیستي بیارغوني له لاري د جګړې اوښتي زیانونه جبران کړل؛ بلکې د نورو پرمختللو اروپایي هیوادونو سره د سیالۍ جوګه هم سول. دغو نویو خلقي نظامونو هر یوه يې د نړۍ په اقتصاد، تجارت، صنعت، هنرونو او علومو کي ځان ته خپل مقامونه ونیول او په ټولو هیوادونو کي د فیوډالیزم او پانګوالۍ د مناسباتو ځای سوسیالیستي اقتصاد ونیو.

په ۱۹۴۹ کال کي، په چین کي هم خلقي انقلاب بریالی سو او په کوریا او ویتنام کي هم د کمونستو او کارګري ګوندونو تر رهبرۍ لاندي ملي آزادي غوښتونکي مبارزې رواني وې. د ختیځي اروپا نوي خلقي او سوسیالیستي هیوادونه عبارت وه له: د پولنډ خلقي جمهوریت، د چکسلواکیا سوسیالیستي جمهوریت، د هنګري خلقي جمهوریت، د جرمني ډموکراتیک جمهوریت (ختیځ جرمني)، د بلغاریا خلقي جمهوریت، د البانیا د خلګو سوسیالیستي جمهوریت، د رومانیا خلقي جمهوریت او د یوګوسلاویا د خلګو فدرال جمهوریت.

د سوسیالیستي بیا رغوني او نوي خلقي حکومتونو د جوړېدلو لنډ مهال وروسته په یادو سوسیالیستي جمهوریتونو کي د بنسټیزو انقلابي اصلاحاتو د عملي کولو د پایلو په توګه، یو کس هم بېسواده پاته نه وو، په دغو نویو جمهوریتونو کي

یو وګړی هم بېکاره نه پیدا کېده او په ټولو نویو خلقي ډموکراتیکو دولتونو کي خلګ د خپلو کورونو، دندو او زده کړو خاوندان وه او د ټولني هر وګړي ته د خپل استعداد په اندازه د پرمختګ زمینه برابره وه.

دغو خپلواکو خلقي هیوادونو پیاوړي اقتصادي، نظامي او سیاسي بنسټونه هم جوړ کړل او د نورو وروسته پاته هیوادونو سره یې هر اړخیزي تخنیکي، اقتصادي او فني همکاری کولې.

خندونکې خو دا ده، چي امپریالیزم پوري تړلي رسنیو دغه خپلواک سوسیالیستي جمهوریتونه د شوروي اتحاد مستعمرې ګڼلې، په داسي حال کي چي هغو د نوري نړی سره خپلواک سیاسي، تجارتي او اقتصادي اړیکي درلودې او د امریکا ولسمشرانو لا هم د ختیځي اروپا هیوادونو ته سفرونه کول او له هغو سره یې سوداګریزي هوکړي کولې.

یوازي په ډموکراتیک جرمني کي د سره پوځ محدود قطعات د امنیت په تامین لګیا وه، خو د ملګري اریش هونکر خبره، د ختیځي اروپا او ډموکراتیک جرمني یو عسکر هم د شوروي اتحاد سره د کوم بل چا پر وړاندي جګړه کي برخه نه وه اخیستې، خو فډرال - پانګوالي جرمني د ناټو د جوړېدلو راهیسي د امریکا د پېشخدمت دنده ترسره کړې ده او اوس یې هم کوي. (ښه بېلګه یې زموږ ګران هیواد افغانستان دی، چي نني جرمني، د امریکایي امپریالیزم د متحدو هیوادونو په

چوکاټ کې خپل پوځیان ورته را لېږلي وه او دلته یې زموږ بې گناه ولسونه کړول.)

همدا نن هم فدرال جرمني د خپلو خلگو د مالیاتو پیسې ناټو ته ورکوي او هر ځای چې امریکا جگړې ته دانگي؛ جرمني یې د پېشخدمت په ډول ورسره وي او جرمني ځوانان د امریکا د گټو لپاره په پردیو هیوادونو کې وژني، په داسې حال کې چې ډموکراټیک جرمني نه د شوروي لپاره کومه جگړه کړې وه او نه یې د خپلو خلگو سرچینې شوروي اتحاد ته ورکړې وې، خو نړیوالي رسنۍ نن ورځ هم پخواني ډموکراټیک جرمني د شوروي مستعمره بولي او فدرال جرمني بیا یو آزاد او ډموکراټیک هیواد. محترم لوستونکي دي خپله دې تناقض ته پام وکړي.

په شوروي اتحاد او د ختیځې اروپا په خلقي دولتونو کې د سوسیالیستي بیارغونې په چوکاټ کې، په ډېرې چټکۍ سره ورانې او زیانمنې سیمې بیا ورغیدلې، ژوند پکښې پیل سو، کرنه پیل سوه او د تولید او صنایعو ماشینونه په حرکت پکښې راغلل. لنډه موده وروسته امریکایي امپریالیزم او د اروپا نور پانگوالي هیوادونه د سوسیالیزم د چټک پرمختگ او هغه څخه له ډاره په اروپا او نورو سیمو کې نظامي تحرکات پیل کړل. د کوریا او ویتنام جگړې او د نړۍ د ملي آزادي غوښتونکو جریانونو څخه د شوروي اتحاد ملاتړ، د گواښونو

کچه زیاته کړه او د سوسیالیستي بلاک او لویدیځ بلاک ترمنځ یې تضادونه اوج ته ورسول.

متحده ایالاتو د شوروي اتحاد د اټومي بمبارۍ پلان جوړ کړی او ورسره – ورسره ټولو نورو پانګوالي هیوادونو د سوسیالیزم د پرمختګونو د مخنیوي او سوسیالیستي انقلابونو له داره د (ناټو) نظامي بلاک تشکیل کړ.

شوروي اتحاد د جګړو د مخنیوي او سولې ساتنې په موخه، نړۍ ته د اټومي خلع سلاح کولو وړاندیز وکړ، چې د پانګوالي هیوادونو لخوا ونه منل سو. د نړیوال سوله ساتي سیاست څخه د نړۍ ټولو مترقي او ډموکراټیکو جریانونو ملاتړ اعلان کړ، خو امریکا لا پر خپلو اټومي بمونو نازېدله او د ملیټاریستي لارو پر کارولو یې ټینګار کاوه، په نهایت کې شوروي اتحاد هم د اټومي بمونو جوړولو ته اړ سو او په ډېرې چټکۍ سره یې لومړی عادي اټومي بمونه او وروسته لوی هایډروجني بمونه جوړ کړل، چې تر عادي اټومي بمونو یې د ورانۍ ځواک څو چنده زیات وو، خو د دغو ټولو وسلو څخه یوازې د سوله ساتو موخو لپاره استفاده وسوه.

په ۱۹۵۳ کال کې، تر هغه مهاله چې ستالین وژل کېده، د نړۍ له درو څخه پر یوې برخه سوسیالیزم، پر یوې برخې پرمختللې پانګوالي او یوې لویې برخې وروسته پاته هیوادونه، چې د فیوډالیزم، ملي ډموکراسیو او کمپرادور بورژوا دولتونو یې درلودل؛ حاکم ول.




انځور: د شوروي اتحاد او ختيځې اروپا د سوسياليستي هيوادونو نقشه

د اکتوبر د انقلاب سره را پيل سوی سوسياليستي غورځنګ، په ۱۹۵۳ کي نور په يو لوی نړيوال ځواک باندي بدل سوی وو، چي له ډاره يې پانګوالي هيوادونو هم د سوسياليزم ځيني سمونونه کاپي کړل، تر څو په خپلو هيوادونو کي د زيات کړکيچ او سوسياليستي انقلابونو د پيښيدو مخه ونيسي، خو دا هر څه دوامداره نه وه.

# شوروي اتحاد د ستالین تر مړیني وروسته (۱۹۵۳ - ۱۹۹۲)

په ۱۹۵۳ کال کې چې ستالین په مرموز ډول مړ سو، د ده د مړیني سره په ګوند کې له وړاندي پټ ځای پر ځای سوی بانډ چې ښې اړخه ګرایشات یې درلودل؛ د ګوندي مقامونو په نیولو باندي ولکې ولګولې. په ۱۹۵٦ کال کې، د شوروي اتحاد د کمونسټ ګوند په شلمه کنګره کي نیکیتا خروشچف د ګوند عمومي منشي وټاکل سو. خروشچف په هماغه کنګره کي په ظاهره د ستالین د سیاستونو او خپلسریو څخه د انتقاد په نوم خپله وینا کول، خو په حقیقت کي یې د شوروي اتحاد او کمونسټ ګوند د ټولو جوړښتونو، داخلي او بهرني سیاستونو، او ټول سیستم د بدلولو خبري کولې.

خروشچف چي د نظري اړخه د بوخارین له پلویانو څخه وو، د شوروي راتلونکې په سوسیالیزم کي د لیبرالو اصلاحاتو په راوستلو کي لیدل. د کوم کال څخه چي خروشچف وټاکل سو او خپل اقتصادي اصلاحات یې پیل کړل؛ د هغه کاله څخه د شوروي اقتصاد چي د نړۍ تر ټولو مخکښ اقتصاد وو او تر ټولو لوړه او عالي وده یې درلوده؛ د ودي کچه کښته سوه او جاپان ورڅخه مخکي سو. د جاپان د مخته کېدو څو کاله وروسته نور اروپایي او امریکایي هیوادونه هم په اقتصادي پرمختګ کي تر شوروي مخکي سول او

خروشچف دې ته اړ سو، چې په ۱۹۶۳ کال کې د شوروي د زرو د خزانې، یو پر درې برخه لویدیځ ته ورکړي او له هغو څخه غله رانیسي. دا د خروشچف د سیاستونو لنډ مهاله اغیزې وي او په اوږد مهال کې خو د ټول شوروي اتحاد د سقوط لامل سوې.

خروشچف ټول د ستالین ملګري او اصولي بلشویکان له ګوند څخه یو په یوه تصفیه کول او ځیني خو یې د دوسیو جوړولو له لاري تر مرګه ورسول. د خروشچف د سیاستونو سره، له هماغه پیل څخه د چین کمونست ګوند د مائوتسه دون په مشرۍ مخالفت وښود او په وروسته کې دا مخالفت د شوروي او چینایي پوځي ځواکونو تر متقابلو ډزو ورسېد. خروشچف دومره حالات ګډوډ کړل، چې حتی نور د ده خپل باند ته هم د منلو نه وو. په ۱۹۶۴ کې خروشچف د ګوند لخوا لیري او پر ځای یې لیونیډ بریژنیف وټاکل سو.

بریژنیف هم په یو شکل کې د خروشچف دوام وو. تر بریژنیف وروسته د لنډ مهال لپاره چرنینکو او بیا اندروپوف د ګوند عمومي منشي مقامونو ته ورسېدل، خو ډېر ژر د شوروي د ځانوژني لپاره ګورباچوف ډګر ته راغلی. هغه د پروستوریکا او ګلاسوناست د سیاستونو په اعلانولو سره په سوسیالیزم کې د لیبرالو اصلاحاتو لړۍ لا پسي چټکه کړل، خو د شوروي د اقتصاد د بیا رغولو په برخه کې یې چې د رکود پیل یې د

خروشچف له دوران څخه سوی وو ؛ هیڅ یوه کوچنۍ لاسته راوړنه هم ونه سوای لرلای.

په ۱۹۹۱ کال کي، په شوروي اتحاد کي د سوسیالیزم او شوروي اتحاد د پاینښت لپاره یوه عمومي ټولپوښتنه وسول، چي په هغه ټولپوښتنه کي ٪۷۰ خلګو د شوروي اتحاد او سوسیالیزم پاته کېدلو ته رایه ورکړې وه، خو د خلګو غوښتنو او رایو ته درناوی ونه سو او په ۱۹۹۲ کي، د یلتیسن په امر د شوروي اتحاد پر پارلمان حمله وسوه او د شوروي اتحاد څخه د روسیې د فدراسیون وتل اعلان سول.



انځور: یو اوکراینی ځوان د شوروي اتحاد او سوسیالیزم څخه په دفاع کي د لاریون پر مهال

څه وخت وروسته د اکتوبر د انقلاب څخه پاته، رغېدلی او پر پښو درېدلی د کارگرانو او زیارایستونکو هیواد، نور د پانگوالو او لیبرالانو لاس ته لویدلی وو او تر ۷۰٪ زیاتو خلگو یې د بې وزلۍ تر کرښې لاندې ژوند کاوه.

تر ستالین وروسته شوروي اتحاد د پورته ټولو ملاحظاتو سره چې یادونه مو یې وکړه، بیا هم د نړیوالي سولې په ساتني، د وروسته پاته هیوادونو سره د مرستو او د ملي ډموکراتیکو او استعماري ضد جریانونو سره په ملاتړ کې یې خپل پخوانی دود پرځای کاوه. شوروي اتحاد په دوامداره ډول سره، لویدیځې نړۍ ته د اټومي او لویو ورانونکو وسلو د خلع سلاح کولو وړاندیزونه کول او په دې اړه یې عیني میکانیزمونه وړاندې کول، چې تر پایه د لویدیځې نړۍ لخوا ونه منل سو.

تر ستالین وروسته شوروي اتحاد تاریخي تگلوري ترخې خاطرې او تجربې لا زیاته دقیقه مطالعه، څېړنه او سپړنه غواړي تر څو ټول اړخونه یې لا زیات څرگند او ښه ښکاره سي.

## د اکتوبر انقلاب ځیني لویي لاسته راوړني:

- د اکتوبر د انقلاب سره، د نړۍ پر ۳/۱ برخه باندې د سوسیالیزم، کارگرو او زیار ایستونکو طبقاتو

حاکمیت تامین سو. د اکتوبر انقلاب وښودل چې کارگر او زیار ایستونکي طبقات کولای سي، د مارکسیزم –لنینزم د لارښوونو په پام کې نیولو سره، خپل سیاسي او اقتصادي حاکمیت، په هره برخه کې تر پانگوالۍ په بریالي ډول سره سمبال کړي. په دې اړه د شوروي اتحاد، ختیځې اروپا، چین او ویتنام هیوادونو د پرمختگونو بېلگي بسنه کوي.

- د اکتوبر انقلاب د پیښېدو وروسته سمدستي، بلشویکانو د تزاري روسیې ټول استعماري تړونونه لغوه اعلان کړل او لومړی یې د آسیا او وروسته د ټولي نړۍ د ملي آزادي غوښتونکو بهیرونو سره اړیکه ونیول او د دغو جریانونو سره یې د ملي آزادۍ په لار کې هر اړخیزي مرستي وکړې. په ځانگړي ډول، د کمنترن سازمان، په نړیواله کچه د کارگري او ملي آزادي غوښتونکو جریانونو سره کار کاوه، هغو ته یې ستراتیژي او تاکتیک ورکول، کدرونه یې ورته روزل او د ملي آزادۍ د لاسته راوړلو په لار کې یې د دوی وړتیاوي ور زیاتولې. د اکتوبر انقلاب، د وخت ملي آزادي غوښتونکو بهیرونو ته دا ور وفهمول چې سیاسي آزادي، د اقتصادي آزادي پرته نه ترلاسه کېږي او د سیاسي آزادۍ د لاسته راوړلو وروسته،

سمدستي بايد د اقتصادي آزادۍ، اقتصادي او ټولنيزو پرمختګونو، بدلونونو، سمونونو او اصلاحاتو لپاره کار وسي، تر څو هيوادونه د تخنيکي او توليدي اړخه هم پر پښو ودريږي. هغه مهال چي د اکتوبر انقلاب پيښ سو؛ په مسلمان مېشتو آسيايي هيوادونو کي ملي آزادي غوښتونکي جريانونه تر ډېره يوازي د بهرنيو استعمارګرو هيوادونو د قواوو پر وتلو باندي ټينګار کاوه، خو حاکمو فيوډالي طبقاتو اجتماعي او ملي پرمختګ او بدلون نه غوښت، په داسي حال کي چي له اقتصادي آزادۍ او تکامل پرته – سياسي آزادي هيڅکله نه ترلاسه کېږي. د اکتوبر انقلاب او د کمنټرن سازمان د دغو هيوادونو روښانفکرانو او ويښو خلګو ته د انقلابي او آزادي غوښتونکي مبارزي تاکتيکونه او ستراتيژۍ ورکولې او دوی ته يې ورفهمول چي د ټولنيزو اصلاحاتو، فيوډالي مناسباتو د له منځه وړلو او فرهنګي بدلونونو پرته نه سي کولای، خپله ملي خپلواکي وساتي. همدا وو، چي نويو ملي آزادي بخښونکو جريانونو د استعمارونو د وهلو وروسته په خپلو هيوادونو کي لازمو سمونونو راوستلو ته هم مخه کړل. په ټوله کي د اکتوبر انقلاب د شلمي پېړۍ په دوهمه لسيزه کي د ملي آزادي

غوښتونکو انقلابونو او ملي خپلواکیو د اخیستلو د بهیر د چټکېدو لامل سو.

- د اکتوبر انقلاب دا ثابته کړل، چې د ښځو اساسي ترینه حقوق یوازي د سوسیالیستي نظام په شتون کي تامینیدلای سي. د اکتوبر انقلاب سره، لومړی په شوروي اتحاد او وروسته په نورو سوسیالیستي هیوادونو کي د ښځو د حقوقو په برخه کي داسي اساسي ټولنیز سیاستونه تطبیق سول، چې له یوې خوا ښځه پر ښځو باندي د منځنیو پېړیو او تېري د دوران ستمونه او فرهنګي ظلمونه پکښې رفع سول او له بلي خوا ښځه د نوي عصر ټوکیدلي معضلات چې له ښځو ښځه د زیات او ارزانه کار اخیستل یا نورو فرهنګي انحرافاتو ته د هغو اړ ایستل وه؛ هم له منځه ولاړل. د لومړي ځل لپاره د اکتوبر د انقلاب وروسته، په شوروي اتحاد کي د حامله ښځو لپاره د ۱٦ اوونیو رخصتۍ حقوق ومنل سول، د ښځو او نارینه وو میاشتنی مزد برابر وټاکل سول او ځیني نور داسي سمونونه یې راوستل، چې په نړیواله کچه یې د ښځو د ژوند پر ښه والي باندي اغیزې وکړې او د ټولي نړۍ ښځو ته الهام ورکونکي وګرځېدل.

- د اکتوبر انقلاب، د نوي سوسیالیستي سیاسي او اجتماعي سیستم سره، پانگوالي نړۍ ډېر ته وهڅول چي د زیارکښو او کارگرو طبقو اساسي ترینه حقوقو ته پام وکړي. کارگرانو ته د ۸ ساعته کار، بیمې، رخصتۍ او تفریح حقوق ومني. د خپلو هیوادونو په تدریسي سیستمونو کي اصلاحات راولي او ټولو ته د یو شان زده کړي او یو شان روغتیایي خدماتو ته لاسرسی برابر کړي.

- د اکتوبر انقلاب، د اقتصاد په برخه کي، د غیر متوازني سوسیالیستي ودي، چټکي صنعتي کېدلو، چټکي فرهنگي ودي، د بې کورۍ، بېکارۍ او بیسوادۍ د چټکي له منځه وړلو په برخه کي، د ټولو علومو (په ځانگړي ډول اقتصاد) په برخه کي لوی درسونه او تجربې موږ ته را پري ایښي دي، چي وروسته پاته هیوادونه ور څخه د خپل وروسته پاته توب د چټک جبران لپاره اغیزناکه گټه ورڅخه اخیستلای سي.

## زموږ په عصر کې د سوسیالیزم د جوړولو لپاره د اکتوبر انقلاب درسونه

په ختیځې اروپا او شوروي اتحاد کې د سوسیالیزم د پرشاتګ څخه ډېرش کاله وروسته پېښو، تجربو، تراژیډیو او زموږ د نړۍ نني وضعیت دا واقعیت په ښه ډول سره څرګند کړی دی، چې زموږ په عصر کې سوسیالیزم د خپلو ټولو کمیو او کاستیو (د سوسیالیزم د جوړولو پر مهال) سره – سره، بیا هم د بشري پرمختګ، ټولنیز عدالت، نړیوالي سولې او ټولو انسانانو ته د هوسا ژوندانه په برابرولو کې یوازینی سیاسي، اقتصادي او علمي بدیل دی. دا خبره نن ورځ، د سوسیالیزم ډېرو پخوانیو دوښمنانو، له هغې ډلې څخه د [تاریخ پای] نظریې تیوریسن فرانسیس فوکویاما هم منلې او د پانګوالۍ د بریالیتوب په اړه یې خپلې خبرې بیرته اخیستې.

زموږ عصر که په امریکا او اروپا کې د فاشیزم د بیا را پورته کېدلو، په آسیا، منځني ختیځ او شمالي افریقا کې د نیابتي جګړو او دیني ارتجاع د پیاوړي کېدو او لاتیني امریکا کې د نیولیبرال اقتصادي موډل د تپلو څخه د زیږېدلو تراژیدیو دوران دی؛ خو لا هم د اکتوبر د انقلاب سیوري او اغیزې پاته دي او د چین او ویتنام اقتصادي او سیاسي ظهور، د شمالي کوریا، کوبا، بلاروس او لاووس د سوسیالیستي او خلقي نظامونو پاته کېدل، سوسیالیزم ته د بیا ګرځېدلو لپاره په

روسیه کې ورځ تر بلې ډېرې کېدونکې غوښتنې، د نړۍ په ډېرو نويو هيوادونو کې له ډموکراتيکو لارو د کيڼ اړخو بهيرونو واک ته رسېدل (بوليويا، وينزويلا، ارجنټاين، کولمبيا، برازيل ...) ټول په مستقيم او غير مستقيم ډول د اکتوبر د انقلاب او د هغه د تاريخي تجربو او لاسته راوړنو سره تړلې دي.

زموږ په عصر کې د سوسياليستي انقلاب، پرولتاريا دکتاتورۍ د جوړولو او کارګرانو او زيار ايستونکو خلګو د واکمنۍ د پايښت لپاره د اکتوبر انقلاب د ډېرو تاريخي درسونو او تجربو څخه ځيني يې دادي:

۱ - کارګران او زيار ايستونکي انسانان کولای سي، سياسي واک د پانګوالي طبقې څخه واخلي او تر پانګوالۍ په کراتو په ښه ډول او زياتو برياليتوبونو سره د بشري ټولني چاري سمبال کړي.

۲ - انقلابونه او ټولنيز بدلونونه د يو لړ عيني قانونمنديو تابع دي او هغه کسان چي دا انساني رسالت ترسره کوي؛ بايد د يادو عيني قانونمنديو سره، چي د مارکسيزم - لنينزم په علمي آثارو کي را ټول سوي دي؛ په ښه ډول سره ځان آشنا کړي او د خپل تګلوري پته ولګوي. بېځايه نه ده، چي ملګري ستالين به ويل: «د تيورۍ نه شتون زموږ مرګ دی!»

۳ – د انقلاب د ترسره کولو او کارگرانو او زیار ایستونکو انسانانو ته د سیاسي واک د ورکولو لپاره یوه متمرکزه رهبري، واحد سیاسي گوند، چې منظم تشکیلات او انضباط او حرفوي کادرونه ولري؛ اړین دي. پرته له واحد فلسفي، انقلابي او کمونستي گوند څخه، پرته د روزل سویو حرفوي کادرونو او د هغو د عملي او اجرایوي یووالي، پرته د گوندي انضباط او تشکیلاتو، پرته د انتقاد او انتقاد له خپله ځانه، پرته د ډموکراتیک سنتریالیزم د اصولو د مراعاتولو او خلگو سره د ارگانیک یووالي پرته د سوسیالیستي انقلاب ترسره کول او د هغه ساتل مطلقاً ناشوني او نیمگړي دي.

۴ – تاریخي تجربو د ستالین «د طبقاتي مبارزې د تشدید» د نظریې کره والی ښودلی دی. څومره چې د سوسیالیستي انقلاب پر لوري ځو، څومره چې د سوسیالیزم په خوا کې لا زیات بریالیتوبونه ترلاسه کوو، په هماغه اندازه د پانگوالی دوښمني او خصومت زموږ سره ډېرېږي. زموږ بریاوي هیڅکله په دې مانا نه دي، چې نور به پانگوالي روغه راسره کوي یا موږ روغه ورسره وکړو. دقیقاً همدا تېروتنه، تر ستالین وروسته د نړیوال سوسیالیستي بلاک د بهرني او کورني سیاست یوه اصلي تېروتنه وه.

۵ – د سوسیالیستي انقلاب لپاره تیاری، د انقلاب ترسره کول او د انقلاب څخه وروسته د سوسیالیزم جوړول یوه پیچلې، دردناکه او د تضادونو ډکه پروسه ده. دا لړی لوړي –

ژوري لـري، پرمختگونـه او پرشـاتگونه لـري، ځینـو موخـو تـه بـه ژر رسـیدگي ونـه سـي، خـو د دغـو ټولـو کشمکشـونو او سـتونزو پـه لـړ کـي بایـد د مارکسـیزم –لنینـزم لارښـووني او تګـلاري پـه پـام کـي ونیـول سـي. د سوسـیالیزم د جوړولـو پـه لـړ کـي سـته سـتونزو، تـه بایـد پـه مارکسیسـتي –لنینسـتي تګـلارو کـي حـل ولټـول سـي. د شــوروي اتحــاد او ختیځــي اروپــا تجربــو وښــودل، چــي پــه سوســیالیزم کــي هــر ډول لیبــرال او ښــي اصــلاحات او د لیبرالیــزم خواتـه ګرایشـات او کیڼ او ښـي ریژیـونیزم یـوازي د پـانګوالی پـه ګټه تمامیږي.

# پای!